## بسم الله الرحمن الرحيم

# مناجات

بـــــاري ربـــه مهربانه فضـــل تـــه وکړې سبحانـــه
ته مي خدای زه دي بنده يم ډېـر بـــې حده شرمنده يـــم
تـــه غفار زه ګنهګار يـــم تـــه ستار زه بـــدکردار يم
اميـدوار دي د رحمت يـــم کـــه څـــه هم ډېر ملامت يـم
تـــه قوت د نـــيکۍ راکې تـــه نـــفرت د بدۍ را کې
ټول اعضا مي پـــه امان کې لـــه هر بد يې پټ پنهان کې
پـــــه حرمت د انحضـرت
تـــــوفيق راکې پر طاعت

(مولوي صالح محمد)

# د افغانستان جغرافيې ته يوه كتنه

زموږ ګران هيواد افغانستان چي د اسيا په لويه وچه كي پروت دئ ډېر غرونه لري. مساحت (دمځكي پراخوالئ) يې ٦٥٠٠٠٠ مربع كيلومتره دئ. نفوس يې د اولسو ميليونو په شاوخوا كي تخمين سوي دئ. دين يې اسلام او د پيسو واحد يې افغانئ دئ.

د افغانستان شمال ته د تاجكستان، ازبكستان او تركمنستان هيوادونه پراته دي؛ غرب ته يې ايران پروت دئ، جنوب او شرق ته يې پاكستان پروت دئ او په شرق كي يو څو كيلومتره د چين سره سرحد لري.

د افغانستان د ولايتونو نومونه لاندي ليكل سوي دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| كابل | كندهار | هرات | بلخ |
| غزنى | لوګر | پكتيا | ننګرهار |
| كنړ | لغمان | كاپيسا | پروان |
| وردک | زابل | هلمند | نيمروز |
| فراه | بادغيس | غور | روزګان |
| جوزجان | پكتيكا | سمنګان | كندوز |
| تخار | بدخشان | بغلان | باميان |
| نورستان | پنجشير | دايكندي | فارياب |
| سرپل | خوست | | |

دافغانستان نقشه :




د هندو کش د غرو سلسله د مملکت د شمال شرق څخه د جنوب غرب خوا ته پرته ده . ددې غرو لوړترینه څوکه چي په پامیر کي پرته ده د ( تیر اجمیر ) په نامه یادیږي او ۷۷۵۰ متره لوړوالئ لري .

د افغانستان نور غرونه لکه :

د بابا غر

سپین غر

تور غر

سیاه کوه
سفید کوه
فیروز کوه




د افغانستان مشهور رودونه:

د امو رود:

دا رود د پامیر د لوړو څوکو څخه سر چینه اخلي. وروسته تر دې چې د تاجکستان، ازبکستان او افغانستان د هیوادو تر منځ ۱۲۰۰ کیلومتره سرحد تشکیل کي د (ارال) په جهیل کي تویږي.

د هلمند رود:

دا رود د منځني افغانستان د غرو څخه سرچينه اخلي وروسته تر دې چې د هلمند په ولايت کي يې په زرو جريبه مځکه اوبه کړې وي د هيواد څخه وزي .

د مرغاب رود:

په لومړي سر کي دوه کوچني رودونه سره يوځای کيږي او دا رود جوړوي .

د ارغنداب رود:

دا رود هم دمنځني افغانستان د غرو څخه سرچينه اخلي او د کندهار په ولايت کي په زرو جريبه مځکه اوبه کوي په پای کي د هلمند په رود ګډيږي .

د کابل رود:

دا رود د پغمان دغرو څخه سرچينه اخلي او د کابل دښار په مابين کي تيريږي .
دا رود هغه وخت اوبه لري کله چي واوره ويلي کيږي .

هري رود:

په لومړي سر کي دوه نور سيندونه سره يوځاي کيږي څو هري رود ځيني جوړ سي .

افغانستان نور کوچني رودونه هم لري لکه : ترنک، ډوری او نور. افغانستان د ځينو دغو رودو څخه د برېښنا د توليدولو کار اخلي او هلته يې د برېښنا فابريکې جوړي کړي دي .




د افغانستان اب و هوا:

افغانستان د موقعیت له مخې د کوم بحر سره نه دئ مښتئ ځکه يې هوا وچه ده مګر دمختلفو منطقو دلوړ او کښته موقعیت په نسبت يې د ګرمۍ درجه ډېر تفاوت لري .

دافغانستان پیداوار:

د افغانستان طبعي پیداوار لکه طبعي غاز، تېل، اوسپنه، مس، دډبرې سکاره، قیمتي ډبرې لکه لاجورد، یاقوت او نور.

افغانستان ډول ډول مېوې لري لکه: انګور، انار، زردالو، شفتالو، توت، خټکي، هندواڼې او نور.

غلې یې لکه: غنم، اوربشې، جوارې او نور.

د لاسي صنعت په برخه کې افغاني غالۍ جهاني شهرت لري. د ورېښمو صنعت هم د هیواد په ځینو ښارو کې د یادولو وړ دئ لکه: ورېښمین ټکران، ورېښمین دسمالونه او لونګۍ. ورېښم د ورېښمو د چینجیانو څخه په لاس راوړي.

پوستینچې او د قرقل پوستکي د پسو د پوستکو څخه جوړوي او بهرنیو هیوادو ته یې د تجارت دپاره لېږي.

په افغانستان کې ډول ډول کورني او وحشي حیوانات پیدا کېږي. کورني حیوانات یې لکه: غوایي، پسونه، وزې، اوښان، اسان، خره او نور.

وحشي حیوانات یې لکه: پړانګ، ایږ، شکوڼ، لېوه، ګیدړه، چغال او نور.

په افغانستان کې ډول ډول ګلان پیدا کېږي لکه: پتني، شبوی، انتري ګل ګلاب، پلاکس، نرګس، سنبل، چنبېلي او داسې نور چې نومونه یې دلته نه ځایږي.

# نوي نسل ته

اې زلمیه! د وطن دا ته په کار یې
که نن زوی یې د سبا د ورځې پلار یې
معایب د مغرب نه کړې ګوره غوره
محاسن یې ترینه واخله د زړه سره
ګوره تېر نه سې له خپله نام وننګه
چې پیاله وا نه خلې تشه د فرهنګه
د راتلونکي نسل پلاره وایم تاته
د خپل پلار نیکه ښه نوم دي ګوره ساته
زحمت کش او زیار کش اوسه مدام ته
لومړی دین ساته نظر کي وروسته قام ته
د ژوندون ساتنه ډېره سوله سخته
ګوره نه سې جد و جهد کي ستومانه
په دنیا کي اول توره بیا قلم دئ
چا چي کړه راټینګ دادواړه کار یې سم دئ
ددوستانو سره ګل سه او ګل اوسه
د دښمن سره اغزي غوندي تل اوسه
ستا به خاوره سي په درې ځیزه ماموره
فکر تېز او قلم تېز او تېره توره
علم وفن کي له هر چا ځیني په سر شه
ددنیا د کارو بار ځیني خبر شه
ترقي هرګوره نه سته په لباس
د عرفان ښه سپین مشعل واخله په لاس

دا افــــراط د اوسنــــي تهـــذيب بلا ده

چي دنيـــا پــــه دې غضب نـــن مبتلا ده

هم تـــفريط نشتـــه زموږ پـــه ايين کي

منع دئ رهبـــانيت زموږ پـــــه دين کي

ځان دي ساتــــه لـــه هغه له دې جنجاله

چي وا نـــه وړې لــــه جادې د اعتدالــه

( مجروح )

د مجروح صاحب دغه لوړ شعر ډېره لوړه معنی لري، مګر دغه دوه لاندي بيتونه يې دلته په اروپا کي زموږ او ستاسي د ژوند دپاره ډېر ارزش لري لکه چي وايي :

معايب د مغرب ګوره نه کړې غوره

محاسن يې ترېنه واخله د زړه سره

ګوره تېر نه سې له خپله نام وننګه

چي پياله وا نه خلې تشه له فرهنګه

ددې مانا داده چي دلته په اروپا کي موږ او تاسي ته د زده کړي دپاره هر ډول امکانات موجود دي. موږ بايد ددغو امکاناتو څخه په اعظمي توګه استفاده وکړو او ددې ټولني د پوهي، کسب او کمال څخه يو څه زده کړو.

# د ژوند لاري چاري

يوه ورځ يو صحرايي سړی حضرت محمد (ص) ته راغئ او عرض يې وکړ: " يا رسول الله زه غواړم چي يو څو پوښتني وکړم. رسول الله جواب ورکړ. " وايه څه وايې ؟ "

پدغه وخت کښي په دربار کښي حضرت خالد بن وليد هم حاضر وواو دغه حديث مبارک يې وليکه او له ځانه سره يې کښېښود او تر هغه وروسته پدې ډول وليکل سو چي يوه برخه يې دلته راوړو :

پوښتنه : يا رسول الله غواړم چي شتمن (خان) سم .

جواب : قناعت خپل کړه، شتمن به سې .

پوښتنه : غواړم چي ستر عالم سم .

جواب : تقوی ( پرهېزګاري ) خپله کړه عالم به سې .

پوښتنه : غواړم چي عزتمند سم .

جواب : چاته لاس مه غزوه ، عزتمند به سې .

پوښتنه : غواړم چي ښه سړی سم .

جواب : خلکو ته ګټه رسوه.

پوښتنه : غواړم چي عادل سم .

جواب : څه چي د ځان د پاره ښه ګڼې، د نورو د پاره يې هم ښه وګڼه .

پوښتنه : د رزق پراخي غواړم .

جواب : همېش په اوداسه ګرزه.

پوښتنه: د دعا قبوليت غواړم.

جواب: حرام خوړل پرېږده.

پوښتنه: غواړم چي د قيامت په ورځ په نور (رڼا ) کي ولاړ يم.

جواب: ظلم مه کوه.

پوښتنه: غواړم چي الله(ج) زما پرده و ساتي.
جواب: د خلکو پرده و ساته.

# بې نيازي

څوک چي نــه لــري يــو بل ته اميدونه
د هغـه په کور کښې خدای ايښي ګنجونه
لـــه عالمه بې نيـــاز هغـــه کســـان دي
چي يې کم کړه پـــه دنيـــا خپل حاجتونه
د دنيا جاه و جلال ورتـــــه هيڅ ښکاري
چي دماغ کي شي پـــيدا عـــالي فکرونه
ذايقه، اشتهـــــا، فـــکر چي بـــدل شي
هغه نه اخلي له دنيا نـــه ډېر خونـــدونـــه
د معنا د خاونـــدانـــو پـــه نــــظر کښې
د دنيا د عـــزت نشته ډېـــر خوندونــــه
څوک چي مست شي د مولا په مينه باندي
د هغـــه زړه کښې وي کـله نـــور شوقونه

# توريالي او مېړني اوسئ

کــل ګــټه ده د تـــوري　　　　که کابل دئ که کشمير
مېړني دي چي يادېږي　　　　پــه سندرو يـــا په وير

مېړنی څوک دئ؟ مېړنی يا مېړه پخوا په پښتنو کي ډېر لوړ مفهوم درلود. چاته چي به وويل سول (مېړه سړی دئ!) نو داسړی د هغو ټولو خويونو څښتن بلل کېده چي د يوه حقيقي پښتون سره لازم وه او دې سړي به نو په پښتنو کښي يو خاص مقام او امتياز درلود. مګر له چا څخه چي به د مېړاني صفت ورک سو او ورته وبه ويل سوه: (مېړه نه دئ) نو د پښتونوالي د ډېرو اوصافو (صفتو) څخه به محروم باله کېده. خو خبره دلته وه چي دا (مېړانه) کوم داسي شی نه وه چي بل چا به سړي ته ورکوله او يا به يې د سړي څخه اخيستله. بلکي دا پخپله د سړي کار وو چي د يوه مېړه خويونه به يې په ځان کي پيدا کړه بيا به نو خلکو مېړه وباله. مېړونو چي به څه ويل هغه يې کول نو پښتنو ته مېړه داسي معرفي کوي:

مـــرد بـــه نشي پـــه ګفتار　　　　څـــو پيـــدا نـــکړي کردار
عفـــو هـــورته ځای لـــرينه　　　　چـــي نـــه عيـــب وي نه عار
چي غـــيرت ور څخه نه وي　　　　هغـــه مـــرد نه دئ په کار
هـــم مهره لـــري هـــم زهر　　　　ښـــه مـــردان وي لـــکه مار
چـــي هم تندر هم باران وي　　　　تـــر هغـــو مـــردانـــو جار
مـــرد بـــه غم د خپـل هنر کا　　　　نـــه د زر نـــه د ديـــــنار
مـــرد به غم کا د خپـل شرم　　　　د عـــــزت د اعـــتبـــار
نـــامـــرد فخر په نسب کا　　　　مرد نـــه مـــور لري نه پلار

که سړی ځیر سي همدا پورته تعریف بس دئ چي پښتنو ته مېړه سړی وښیي.

خوشال خان هغو پښتنو ته چي مېړانه یوازي په ښو ښو کالیو کي لټوي داسي پېغور ور کوي:

د زنانو په حساب دي مــردان مشه
چي له زېبه او زینته هم اغوش وي

مېړني هغه څوک بولي چي په غم کي مردانه وي او د سختۍ په ورځ لاس او پښې سره ورک نه کړي او وار خطا نه سي:

واړه زړونه فراغت وي په ښادي کښــي
چي په غم کي مردانه شي زړه هغه دئ

پښتون مېړه باید هردم خیال نه وي او نه یې خپله اراده د بل په ارادې پوري تړلې وي، خلک به هر څه هر څه وایي خو پښتون مېړه به خپل عزم او اراده تر سره کوي. نو ځکه خوشال خان خپل د زړه د استقامت داسي مثال راوړي:

د عالم ډیري خبري، لور پــه لور تـــوري لښکري
زړه مي نه خوځي له ځایه، غر خو هسي وي که نه؟

بل ځای د خپل زړه لویوالئ داسي بیانوي:

د جهان غمونه واړه پکښي ځای شـول
شکر دا چي زړه یې لوی راکړ وما هم

خوشال خان وایي په سړیو کي فرق دئ، ټول یو شان نه دي او نه ټول مېړونه یو راز زړونه لري. خو څوک چي رښتیا مېړونه دي د هغو زړونه ډېر کلک او د ژوند د هر ډول مشکلاتو تحمل کولای سي، وایي:

نـــه ســـره ســـــم دي واړه مېړونه
نـــه ســــره سم دي د هر چا زړونه
زړونه هم هغه ګڼه چي لکه غر شي
کـــه بـــــاندي راشي هـزار غمونه

مېړه هغه څوک دئ چي د تنګۍ او سختۍ په وخت کي ځان و نه بایلي، نو خوشال وایي:

په جهان کښي که مردان دي هم هغه دي
چـــي و سخـــتي تـــــه ونیسي ځانونه

مېړنی پښتون باید وسواسي نه وي، چي یو کار شروع کړي او بیا پکښي متردد سي او یا یې د ډار او ویري له کبله پرېږدي، دا د مېړني خوی نه دئ، نو ځکه خوشال خان وایي:

د مــرد چــي نــه وي ويــنا محکمه
پــه ده بـــه نـــشي ورغلـــه ســمه
چـــي يــو يــې زړه وي يـــوه خبره
خلاص وي له همه خلاص وي له غمه

د غم زغملو د پاره خوشال خان ډيري ښې لاري ښودلي دي خو په اخر کي يې د خپل زړه غم هم ويلئ دئ:

غم په زړه کښي بد غليم دئ      څــو تـــوانېږي خــواروه يې
يـــا غمخوار چېرته پيدا کړه      ور تـــه کښېنه ښکاره‌وه يې
يـــا تېـــره تـــوره را واخله      څـــو چــي وي هموار‌ه وه يې
يـــا فـــرياد فرياد ناري کړه      ژاړه تـــار پـــه تـــاره وه يې
يا (خوشال) غوندي زړه راوړه
ځـــای يـــې کړه انباره وه يې

(بېنوا)

# چې په خوی باندې کمکی وي بابا نه دئ

چې په سمه لار څوک نه ځي بـینا نـدئ
چې عمل په عـلم نـکړي مـلا نـدئ
که یې فکر ستـا لـه فـکره مخالف وي
شپـه او ورځ کـه در سره وي اشنا ندئ
لـمر کـه راشي پـه تندي باندې له پاسه
تـه چـې ویـنې له خوبه نه یې سبا ندئ
وړاندې وروسته د هر چا ډېوې مړې کیږي
تـر سبا پـورې ځراغ بـل د چـا ندئ
چې په فکر، عقل لوی نه وي مـاشوم دئ
چې په خوی باندې کمکی وي بـابـا ندئ

(عالي افکار)

# پښتو متلونه

متل یوه لنډه جمله ده چې ډېره لویه مانا لري. اکثره وختونه د یوې پیښې لنډ بیان وي. خلک اکثره وخت په خپلو خبرو کې متلونه، شعرونه او یا لنډې کیسې راوړي، هغه هم د دې د پاره چې خبرې یې خوندورې او دلچسپې وي او خلک ښه غوږ ور ته و نیسي.

یو ډول متلونه په لیکلي ډول په کتابو کي لیکل سوي وي او ځیني یې په شفایي ډول د خلکو په منځ کي رواج لري.

دلته به یو شمېر هغه متلونه چي په کتابو کي لیکل سوي وي تاسي ته را وړو:

۱ـ هر چا ته خپل وطن کشمیر دئ.
۲ـ پر ښو تلوار پر بدو تامل.
۳ـ مور د وږي په حال څه خبر دئ.
٤ـ سپور د پلي په حال څه خبر دئ.
٥ـ نا پوه دونه په بل نه کوي لکه په خپل ځان.
٦ـ خپل مال ساته او همسایه غل مه نیسه.
۷ـ هر څوک خپل شی ښاغلی بولي.
۸ـ تر بې کاري بې ګاري ښه ده.
۹ـ د لوږي مړ سه د منت خواړه مه خوره.
۱۰ـ پوره ورک دي کړه دوه کوره.
۱۱ـ خدایه لوی مي کړې لویي را مه کړې.
۱۲ـ د اورغوي تڼاکه مرغلره ده.
۱۳ـ د درواغو مزل لنډ دئ.
۱٤ـ درواغ د ناپوه وزر دي.
۱٥ـ دروغجن دي درواغ وایي، رښتیا ګوی دي قیاس کوي.
۱٦ـ یا خپل کور یا خپل ګور.
۱۷ـ مه کوه په چا چي و نه سي په تا.
۱۸ـ لږ خوره هوسا اوسه.
۱۹ـ چي جنګ نه کوي هغه لو ډېره اخلي.

# د نیکه رېغ

بـــرایـــي مـــي دا زخمـــــي زړه نا قرار کړم
پـــه جهــــان جهـــان غمو یـــې ګرفتار کړم
څـــه ووایـــم چـــي یـــې څرنګه ازار کړم
هســـــي رنـــګه چـــي د ژونده يې بېزار کړم
زه ګـــرم نـــــه یـــم‌دا زمـــا زړه لېونی دئ
غـــم لـــــرلـــئ نـــــازولئ دئ کـــمکی دئ
پـــــه ژړا ژړا یـــــې و ایـــستم لـــــه ښاره
بو يې تلم په توره شپه کي تـــر کهســـــاره
هســـــي وینـــــي بهـــــبدلې لـــــــه پرهاره
چـــي د غــــمه یـــې ژړل مـــــي  تر سهاره
چي لـــه ما يې پـــاتـــه کړئ کلی کور دئ
دا زړه نه دئ په کوګل کي مي سور اور دئ
لـــوی سهار شـــو نسیم راغـــئ شیدایي شوم
د یار بوی رابـــانـــدي ونښت ســـودایي شوم
د خـــپل زړه پـــه خبـــر په غم د جدايي شوم
مخ مـــي و نـــیو و صحرا تـــه صحرایي شوم
پـــه ژړا او پـــه افســـوس لـــــکه مـــجنون
هـــري خـــوا تـــه ګرزېـــدم پـــه زړه زبون
د ببلتـــون غـــم مي پر زړه باندي چاپېر شو
زخـــمي زړه مـــــي پـــه غمو د جانان زبر شو
د  دلـــدار د فـــراق غـــم را باندي ډېر شو
خپـــل تـــبر شو را پیاد جهان مي هېر شو

نــو مــي مــخ کئ د نيـــکه د قبر خوا ته
پـــــه ژړا مــــي شــروع وکړه دې وينا ته:
نيـــکه جــانـــه! د دنيـــا غمو خراب کړم
نيـــکه جــانـــه! د هجران لمبو کباب کړم
رقـــيبانـــو پـــه پېغور ډېر په عذاب کړم
رويبـــارۍ د بېـــګانــه خلــکو تراب کړم
پــدې فــکر کــي خورا په زړه افګار يو
چـــي دا پــاتــــه ولي داسي له اغيار يو
عـــاشقـــان د تــرقــي د خپـــل وطن يو
پــر وطن بــانــدي موږ تېر تر سر و تن يو
پــه خــدمت کــي د اسلام ډېـر غيرتمن يو
پـــر دا خـــپله خـــرابـــه مـــېنه مـين يو
څه به دا کړو چي دا درياب راته ساحل شي؟
د لـــوړتـــيا د محبوب وصل را حاصل شي؟
نيـــکه رېغ د حـــال پــه ژبــه کـــړ له ګوره
چـــي اى زويـــه اى زمـــا د سترګووتوره!
کـــه د عشـــق پيمانــه نــه غواړې نسکوره
زموږ اعمال د ځان سرمشق کړه تاريخ ګوره
ور کــول مـــو پـــر وطن بـــانـــدي سرونه
پـــه غيـــرت مــــو لاندي کړي وه ملکونه
چـــي اعـــلان بـــه مو د جنګ ميداني کړه
يـــا د ننـــګ پــر لوري موږ پهلواني کړه
ســر و مــال بــه مـــو تــر مېنه قرباني کړه
پــر دښــمن بــه مـــو تــرخه زندګاني کړه

پــه دغــه صورت مــو و ساتئ وطن خپل
اوبــه کــړئ مــو پــه وینو دئ ګلشن خپل

اوس و تــاسي تــه زامنــو انتــظار یــو
منتــظر د تــرقۍ د دې کــوهســار یــو
پــه قــبرو کــې د وطن په غم افګار یو
کــه همت و کــئ نو ستاسي منت بار یو

ګــونــدي دا خــرابه خونه مو ګلشن شي
کــارخــانــې پکښي بنا د علم و فن شي

بــا غیــرت زامنــو لــږ څه غیرت وکئ
د وطــن پــه ودانــۍ کــې زحمت وکئ
یــو و بــل تــه په اخلاص نصیحت وکئ
غــیرت وکــئ غیــرت وکــئ همت وکئ

دا وطــن مــو هم زانګو هم کور هم ګور دئ
کــه خــراب شي یا برهم څومره پېغور دئ؟

یــو لــه بــله پــه اخلاص ور کئ لاسونه
د نــاتــوانــو ســره وکــئ کومکونه
د نــفاق لــه خــیري پــاک کئ صورتونه
پــه یــو والي ســره وکــئ ښه کارونه

واسطـــه چــې پــه دنیا کې د خوارۍ ده
بېــکاري ده بېــکاري ده بېـــکاري ده

مــوږ تــېر کــړئ ښه دوران په اتفاق وو
مــوږ ګټــلئ نــوم نښــان پــه اتفاق وو
بــېرولئ مــو جــهان پــه اتفــاق وو
چــې فــاتــح وو پــر دښمن په اتفاق وو

هغــــه ښــــه د ګـــتي شي چي پر افاق دئ
اتفـــاق دئ اتفـــــاق دئ اتفـــــاق دئ

کـــه مـــو دغـــه رنـــګه حال یا ژوندون وي
یـــا سبـــا مـــو د امیـــد لـــکه پرون وي
یـا دي خـدای نه کي نفاق وي یا بېلتون وي
نـــو نیـــکه بـــه مو له غمه جګر خون وي

زمونږ وار تـــېر سو ای زامنو ستاسي وار دئ
د خدای پار دئ د خدای پار دئ د خدای پار دئ

د نیـــکه پـــر دې وینـــا مـــي زړه مفتون شو
عقـــل و حـــس پـــه رشتیا ور ته مجنون شو
د (طالب) پـــر خپل احوال باندي زړه خون شو
تـــر دې حـــده چي رنګین یې دا مضمون شو

خدای دي را کاندي توفیق د کار چي کار کړو
د نیـــکه پـــه نصیحت بـــاندي رفتـــار کړو

(محمد حسین طالب)

# کله چي تاوون (طاعون) راغئ

په کال ۱۳٤۹ عیسوي کال کي د ناروې د برګین د ښار بندر ته یوه کښتۍ راغله. کله چي د بندر کار کوونکي کښتۍ ته ور ننوتل، ویې لیدل چي په کښتۍ کي هر چیري کښتۍ وانان مړه پراته دي. څه وخت وروسته دغه د بندر کارګران هم ناروغه سوه. دوی ډېره لوړه تبه پیدا کړه

او د ټوخي سره يې ويني راتلې. ځينو بيا د تنفس مشکل پيدا کړ، او نورو بيا پر بدن باندي شنې شنې لکې (ټپلي) پيدا کړې. او ځيني بيا ژر مړه سول. پسله دوو مياشتو ٤٠٠٠٠ تنه مړه سوه.

په ديرلسمه پېړۍ کي د تاوون ناروغۍ په اروپا کي د پنځو شپږو کلو په جريان کي د اروپا د نفوسو څلرمه برخه ياني پنځه ويشت مليونه انسانان مړه سول. دغومره ډېر په افريقا او اسيا کي مړه سوه.

دا توري مږي (موږکان) وه چي ناروي ته يې د ځانه سره تاوون راوړ. د مږي په وړيو کي يو ډول شپږي اوسېدې. دغو شپږو يو ډول مکروب درلود چي د تاوون د ناروغۍ سبب کېدئ. دغه شپږي په ډېره اساني سره د مږو څخه و انسانانو ته ور تلې او د انسانانو د پاره د ناروغۍ سبب کېدې، چي دغه انسانان ناروغه کېده او بيا مړه کېده.

په اسيا کي يوه سلسله زلزلې پيښي سوې. توري مږي چي تر مځکه لاندي اوسېدې، د دغو زلزلو په اثر د دوی کورنه خراب سوه او دوی مجبوره سوې چي د خپلو کورو څخه راووزي او نوي کورونه پيدا کړي. دوی شاو خوا ولاړې. په دغه وخت کي تاوون په چين کي هم پيدا سو.

پدغه وخت کي د دنيا د لويو وچو تر منځ اړيکي ډېر سوه. ډېرسوداګران د وربښمو، ادوو او مسالو په سوداګري بوخت وه. دغه سوداګران د وربښمو پر لار باندي، چي د چين څخه تر توري بحيرې پوري تله. دغه لار د افغانستان څخه تېرېده. د سوداګرۍ يوه بله لار د هند څخه تر مصر پوري راتله او د هغه ځايه څخه د کښتۍ په واسطه اروپا ته. مږو هم د سوداګرۍ دغه نوي لاري تعقيبولې. هغه کښتياني چي جنوبي اروپا ته

راتلې مرګ يې هم ورسره راوړئ.

د تاوون مرې په تنګو او چټلو ځايو کې ډيرې خوښې وې.

د تاوون د ناروغۍ دوا نه وه، او هيڅوک نه پوهېده چې دغه ناروغي ولې راغلې ده. ځينو به ويل چې دا نا پاکه هوا ده چې دوی يې ناروغه کړي دي. نور و بيا ويل چې دا خدای دوی ته د دوی د ګناهونو جزا ور کوي. په اروپا کې په کوڅو او سړکانو کې په زرو خلک ګرزېدل او خدای ته يې دعاوې کولې. دوی ژړل او ځانونه يې په چلاخو وهل د دې د پاره چې خدای به دوی وبخښي. نورو عيسويانو دغه ناروغي د يهوديانو له خوا بلله. دوی به ويل چې يهوديانو د دوی د څښلو اوبو ته زهر ور اچولي دي نو په زرو يهوديان يې وهل او وژل به يې.

په کراره کراره تاوون له منځه ولاړ. يو دليل يې دا وو چې يو ډول سره موږکان را پيدا سوه او د تاوون هغه تور موږکان يې د منځه يوړه. دغه تور موږکان اوس د هماليا د غرو په جنوب کې کله کله پيدا کيږي.

## بې پته خويونه

يو چې ډېر خوري سوګندونه — بـل چې ډېـر کـوي پورونه
اشـنايـي ور سـره مـه کړه — دا بـې پــته دي خــويــونه

(خوشال خان)

# دهقاني

دهقاني ځومره ښه کـار دئ
هر دهقان سړی مالـدار دئ

لـــري میـــږي هـــم پسونه
شنـــه پټي او شـــنه باغونه

همېشه پـــه شنو باغو کي
پـــاس د ونو په سرو کي

نغـــمې اوري د بـــلــبلو
ویـــنې ښـــې غنچې د ګلو

خوري مـدام کوچ او پېروي
همـــېشه یـې صحت ښه وي

د خـــپل لاس لـــه بـرکته
هم لـــه خپـــل عالي همته

له سپېرو خاورو خپل ځانته
خپــل اولاد او بل انسان ته

خـــونـــدور شیان پیدا کړي
دا تیـــاره جهـــان رڼا کړي

وچ ډګـــر او بیـــابـــان
کـــړي شـــاعر تـــه ګلستان

پـــه خـــوږو مـېوو مرغان
پـــر ګـــلانـــو بـــلبـــلان

کـــړي خـوشاله له خپل ځان
ټــول د ده شي ثنـــا خوان

کـــه غـــلې او کـه مېوې دي
کـــه د ګـــلو ښې غنچې دي

کـــه طعـــام کـــه فاکهه ده
کـــه د ښـــه ځای ننداره ده

د دهـــقان د بـــازو زور دئ
چي نن دا جهان سمسور دئ

# کیسه

یوه سړي یوه جوړه کالي یوه ګنډونکي ته د ګنډلو د پاره یوړه. د شپې د ګنډونکي دکان غلو وواهه او د سړي کالي یې هم یوړه. ګنډونکئ پدې پېښه ډېر خوا شینی شو نو ژر یوه پال کتونکي ته ورغئ او ورته ویې ویل: ”که ته ماته دغه غل را وښیې زه به تاته پیسې در کړم.“

پال کتونکي چي پال و کوت نو یې ورته وویل: ”ستا غل فلانی نفر دئ.“

ګنډونکئ سمدستي راغئ غل یې پیدا کړ او ور ته ویې ویل: ”زما د دکان څخه دي شیان غلا کړي دي را یې کړه که نه حکومت ته عرض کوم.“

غل هم و ډارېد او د ګنډونکي شیان یې ور کړه. ګنډونکئ راغئ پال کتونکي ته یې څه پیسې ور کړې. کله چي د کالو څښتن راغئ چي د خپلو کالو تپوس وکړي، ګنډونکي ورته وویل: ”وروره څه غواړې؟“

سړي ور ته وویل: ”زما کالي څرنګه سوه؟“

ګنډونکي وویل: ”کالي چي مي جوړ کړه نو مي خرڅ کړه نیمي پیسې مي پال کتونکي ته ور کړې او نیمي یې ما په اجوره (مزدوري) کي وګرزولې.“

# تــوكــه

د روژې مياشت را نژدې کيږي. په يوه مسجد کي يو ملا صاحب خلکو ته د روژې د ثواب او ترتيب په باره کي لار ښودنه کوي او داسي وايي: ”کله چي مو د روژې مياشت وليده نو په دا سبا ورځ به روژه و نيسئ.“

پدې منځ کي يو سړی ناست دئ، د ځان سره داسي فکر کوي: که سړی د روژې مياشت و نه ويني نو روژه نه ده پر فرض، لوړ به نه ګورم، مياشت به نه وينم نو د روژې د نيولو څخه به خلاص يم. څو ورځي يې پدې چل د روژې د نيولو څخه ځان خلاص وباله.

يوه ورځ د ويالې (ولې) پر غاړه ناست دئ چي ګوري د ويالې په اوبو کي يې ماشت و ليده، سر يې وښوراوه او بله چاره يې و نه ليده، ماښام يې د سبا ورځي د روژې نيت وتاړه.

# ايـمان او اسلام

د ايمان د لغات مانا يقين او باور درلودل دي. مګر د عقايدو د علم له مخي دې ته وايي چي سړی په خوله وايي او په زړه کي په هغه باور او يقين ولري. مومن هغه څوک دئ چي هغه څه چي حضرت محمد (ص) د خدای(ج) د طرفه راوړي دي په خوله ووايي او په زړه باور په و لري.

که یو څوک په خوله د اسلام کلمه و وایي او په زړه کي په هغه باور ونه لري نو مومن نه دئ او منافق بلل کیږي.

د اسلام د لغات مانا(معنی) تسلیمېدل دي. یاني (یعني) چي سړی د خدای تعالی و امر ته تسلیم وي.

## په خوله اقرار او په زړه تصدیق

امنت بالله و ملائکته و کتبه و رسوله والیوم الاخر و لقدر خیره و شره من الله تعالی والبعث بعدالموت.

د دې مانا دا ده چي:

ایمان مي راوړئ دئ پر الله پاک او پر ملایکو باندي د الله پاک او پر کتابو باندي د الله پاک او پر رسولانو باندي د الله پاک او پر دې چي د قیامت ورځ سته او پر دې چي خیر او شر ټوله د الله پاک په قدرت او اراده کي دي او پر دې چي پسله مرګه د قیامت په ورځ د خیر او شر د حساب د پاره بیرته راپاڅېده سته.

د مومن مسلمان عقیده باید داسي وي چي دغه امنت بالله په خوله ووایي او په زړه باور په ولري او تصدیق یې کړي.

خدای تعالی هغه ذات دئ چي مځکي ، اسمانونه ، انسانان ، حیوانان ، ټول موجودات او کاینات يې پیدا کړي دي او هیڅ شریک او ساری نه لري.

ملایکي: خدای (ج) ملایکي پیدا کړي دي. ملایکي هیڅ کله د خدای (ج) د امر څخه سر نه‌غړوي. د ملایکو د جملې څخه دغه څلور ملایکي و لولئ:

١ - **حضرت جبرائل علیه السلام**:
چي وظیفه يې پیغمبرانو ته د وحو راوړل وه.

٢ - **حضرت میکائل علیه السلام**:
چي وظیفه يې د خدای تعالی و مخلوقاتو ته د روزي رسول ده.

٣- **حضرت عزرائل علیه السلام**:
چي وظیفه يې د خدای تعالی د مخلوقاتو روح قبض کول ده.

٤ - **حضرت اسرافیل علیه السلام**:
چي وظیفه يې د صور شپېلۍ ږغول ده. کله چي د صور شپېلۍ ووهي د ټولو مخلوقاتو روحونه قبض کیږي او کله چي بیا د صور شپېلۍ ووهي ټول مخلوقات بیرته د حساب د پاره راژوندي کیږي.

**اسماني کتابونه**:
موږ ایمان لرو پر ټولو هغو کتابو او صحیفو چي د حضرت جبرائیل

عليه السلام په واسطه د خدای (ج) له طرفه پر پیغمبرانو باندي را نازل سوي دي. اول صحيفې مبارکي چي شمېر يې سل دئ او بيا کتابونه چي شمېر يې څلور دئ را نازل سوي دي لکه:

١ - لس صحيفې پر ادم عليه السلام را نازلي سوي دي.

٢ - پنځوس صحيفې پر شيث عليه السلام را نازلي سوي دي.

٣ - دېرش صحيفې پر ادريس عليه السلام را نازلي سوي دي.

٤ - لس صحيفې پر ابراهيم عليه السلام را نازلي سوي دي.

٥ - لومړی کتاب زبور دئ چي پر داود عليه السلام را نازل سوئ دئ.

٦ - دوهم کتاب تورات دئ چي پر موسى عليه السلام را نازل سوئ دئ.

٧ - دريم کتاب انجيل دئ چي پر عيسى عليه السلام را نازل سوئ دئ.

٨ - څلرم کتاب فرقان (قران) دئ چي پر محمد عليه السلام را نازل سوئ دئ.

# اسلام سوله خوښوي

اسلام د ورور ګلوۍ، عدالت او امن دين دئ. حضرت محمد (ص) د اسلام پيغمبر او رهبر دئ چي د ډېر کوچني والي څخه په ښو اعمالو (کړو) مشهور وو. سوله يې تر جنګ او عداوت خوښه وه. د غريبانو سره يې ښه کول. د دې د پاره چي دا و ښيو چي حضرت محمد (ص) تر جنګ سوله خوښوله نو ښه به دا وي چي د حديبې د سولي قرارداد و لولو.

# د حديبې د سـولـي قرارداد

کله چي حضرت محمد (ص) په مکه معظمه کي د مخالفينو د لاسه ډېر په عذاب سو نو يې د مدينې د خلکو (انصارو) په بلنه او غوښتنه و مدينې شريفي ته هجرت (کوچ) و کړ.

کله چي په مدينه کي د مسلمانانو شمېر زيات سو نو حضرت محمد (ص) د يو زيات شمېر مسلمانانو سره په ګډه و غوښتل چي د حج د فريضې د ادا کولو د پاره و مکې شريفي ته سفر وکړي. خو د مکې قريشو مکې شريفي ته د ننوتلو اجازه نه ور کول.

د هجرت په شپږم کال چي د حج موسم (وخت) را نژدې سو محمد (ص) و مسلمانانو ته وويل: "هغه کسان چي غواړي له ما سره حج ته ولاړ سي ځانونه دي چمتو کړي." ۱۴۰۰ مسلمانانو د حج د پاره تياري و نيوله

او د مکې پر لور را رهي سوه. کله چي حديبې (مکې ته نژدې يو ځای دئ) ته و رسېدل، هلته و درېدل او يو سړی يې د مکې مشرانو ته ور واستاوه چي دوی ته اجازه ور کړي چي حج وکړي. خو هغو دوی ته د مکې د داخلېدو اجازه ور نه کړه. پدې سبب نو د مسلمانانو او د مکې د قريشو تر منځ ځو ورځي بحث او خبري و سوې. دوی په حديبه کي ځو ورځي تيري کړې. مسلمانانو به ويل چي د دوی شمېر اوس ډېر زيات دئ کولای سي چي د مکې د قريشو سره جنګ وکړي مګر حضرت محمد (ص) دوی ته د جنګ کولو اجازه نه ور کول ځو په پای کي د مسلمانانو او قريشو تر منځ د سولي يو قرارداد لاس ليک سو چي د حديبې د سولي د قرار داد په نامه يادېږي.

پدې قراداد کي دا هم ويل سوي وه چي دواړي خواوي به بيا جنګ نه سره کوي. دا کال دي مسلمانان بېله دې چي حج وکي بيرته مدينې ته ولاړ سي، په راتلونکي کال کي دي راسي او درې ورځي دي په مکه کي پاته سي حج دي وکړي. دا چي د حضرت محمد (ص) سوله تر جنګ او جګړې خوښه وه دا قرارداد يې لاس ليک کړ، که څه هم ډېر مسلمانان پدې قرارداد راضي نه وه ځکه چي شرطونه يې ډېر سخت وه.

## د ماينې مرګ

يو سړی د خپلي ماينې د سخت سلوک څخه شاکي وو (شکايت يې کاوه). يوه ورځ يې يوه ملګري ته وويل: "ښځه مي خورا بد خويه او

قهرجنه، ده او دا دوه کاله کیږي چي ناروغه هم ده."

ملګري یې ورته وویل: "که یې د مرګ خبر درته راوړم خوشاله به سې؟"

سړي ورته وویل:"یه، پدې چي که د دې د مرګ واورم د ډیري خوشالۍ به زه مړ سم."

## د ژبې اهمیت

پــه هر دم پــه هر زمان په کار ده ژبه
د همــه واړه جهــان پـــه کار ده ژبه
نــا اشنــا اشنــا کـــوي سـره خبري
پـــه خبـــرو نـــژدې کیږي خلک لیري
د تورزن پـــه کار نـــه وي هومره توره
لکه ژبه چي هر ځــای کي وي منظوره
کـه کاتب دئ کـــه کاغذ دئ که قلم
ټـــول د ژبې خـــدمتګار دي دم په دم
پـــه مرغـــانو کي تـــوتي دئ عزتمند
دا پـــدې چي ښې خبـري کړي د خوند

مګر دوه شــرطه په ژبه کي ضرور دي
دغـــه دواړه ضروري په ښه دستور دي
اول دا چـــي ښـــې صحيح کوي خبري
چـــي خـــبري ســي پـــه مثل مرغلري
بـل پــه بدو دي خوله نه خوزوي خپله
تــل دي ســم پــه انـدازه وي لکه تله
بــده ژبـــه د سړي پــه ځـــان بلا سي
خـــوږه ژبـــه د ســـړي چاپېر کلا سي
هر سړی د سړي توب دعوې چي کاندي
ځـان دي پوه کاندي په ډيرو ژبو باندي
پــه يــوه ژبــه مطلب نـــــه پوره کيږي
که هوښيار وي هم له سره نـــه پوهيږي
که حاکم وي غور هيڅ نـه ســي کولای
که عالم وي طالب نه سي پـــوهـولای
پــه سفــر کـــي لـــکه نقش د ديوال
ګنــګ ولاړ وي بـــې طاقته بې مجال
خصوصـــا چـــي پښتـــو ژبي ته حاجت
پېـــښ وي ډېـر زياتي له حده دا ساعت
"احمد" وکړ پـــه دا شان اســـان کلام
چي پوهيږي پرې کل واړه خاص و عام

# کيسه

يوه سړي غوښتل چي پېښئ ژرندي ته يوسي ، نو يې خره ته ضرورت پيدا کړ. راغئ د ګاونډي د کور دروازه (ور) يې ور وټکول. ګاونډی چي راووت ، پوښتنه يې ځني وکړه: "خيريت دئ ، کوم شی مو په کار دئ؟"
سړي وويل: "هو! ستاسي خر غواړم ژرندي ته پېښئ وړم."

ګاونډي وويل: "زما خر په کور کي نه سته." ګاونډي لا دا خبره نه وه خلاصه کړې چي خره ناره و کړه.

سړي وو يل: "هغه دئ په کور کي دئ ناره يې و کړه."

ګاونډي وويل: "وروره ولاړ سه ، ته زما هغې نه منې او د خره هغې منې."

# ګيدړه او بڼ

يوه ګيدړه چي ډېره وږې سوې وه ، يوه بڼ ته چي د راز راز مېوو څخه ډک وو ، راغله او و يې غوښتل چي بڼ ته ننوزي او د مېوو څخه يې و خوري. خو د بڼ ور تړلئ او د ننوتلو هيڅ لار نه وه. نو د بڼ تر دېوال

شاو خوا و ګرزېده څو د ننوتلو لار پیدا کړي. بڼ ته د ننوتلو هیڅ لار نه وه خو په اخر کي تر موري ور ننوتله. هلته یې دومره مېوې و خوړې او اوبه یې و چیښلې چي نس یې و پړسېد.

کوم وخت چي یې و غوښتل د بڼ څخه ووزي، نو هغې موري ته ورغله. د دې کبله چي نس یې پړسېدلئ وو په موري کي بنده سوه. ګیدړه د دې پیښې څخه ډېره خوا شینې سوه او فکر یې و کړ چي څه چاره و سنجوي. په پای کي یې له ځانه سره فیصله و کړه چي په موري کي پاته سي تر څو بیرته ورېې سي او د نس پاړسوب یې کښیني.

څه وخت وروسته یې د نس پاړسوب کښېنوست او له بڼ څخه را ووتله. د روانېدو په وخت کي یې مخ د بڼ پر لور را واړاوه او داسي یې ورته وویل: "اې ښکلې بڼه! ته ډېر ښایسته یې، مېوې دي خوږې دي، اوبه دي سړې او خوندوري دي. خو ما ته دي کومه ګټه و نه رسېده، ځکه د ننوتلو په وخت کي هم وږې وم او اوس هم وږې در څخه ځم."

# صداقت

د امام اعظم یا امام ابو حنیفه پلار یوه ورځ د یوه رود پر غاړه را رهي وو چي د رود په اوبو کي یې یوه منه ولیده. سمدستي یې لاس ور وغزاوه او منه یې د اوبو څخه را و ایستله. د منې څخه یې یوه کوچنۍ ټوټه و خوړه. د منې د مزې تر کتلو وروسته یې فکر و کړ چي دا منه خو

د بل چا مال دئ او ما ته يې د خوړلو اجازه نه سته. نو پدې فکر کې سو چې د منې څښتن (خاوند) پيدا کړي او د هغه څخه بخښنه و غواړي. د رود غاړه يې را واخيسته، څو يوه بڼ ته را ورسېد چې د هغې منې په شان منې لري.

د بڼ په دروازه کې و درېد او باغوان ته يې ور ناره کړه: "باغوانه!"

بڼوال وويل: "څوک يې او څه وايې؟"

ده ورته وويل: "كه زحمت نه وي يو وار دلته راسه!"

باغوان چې راغئ، ده ټوله کيسه ور ته و کړه او د باغوان څخه يې هيله وکړه چې ده ته د هغې منې د خوړلو بخښه و کړي.

بڼوال چې هم يو ډېر هوښيار سړی وو، و پوهېدئ چې دا سړی نو يو ډېر امانت کار سړی دئ. د ځان سره يې فکر وکړ چې خپله لور به ده ته په نکاح ور کوي.

باغوان وويل: "زه پدې شرط تاته بخښنه کوم چې زما لور چې په غوږو کڼه، په سترګو ړنده او په پښو شوټه ده په نکاح و منې."

سړي د ځان سره فکر وکړ چې دا څرنګه کار سو. که دا ښځه قبوله کړې نو به دي ټوله ژوند په عذاب وي او که يې نه کړې قبوله نو د خداي په حضور کي به څه وايې. اخر يې فيصله و کړه چې خير د دې دنيا عذاب خو به تېر سي، د دې ښځې سره به په يو شان نه په يو شان ژوند و کړې. نو نا چاره سو او د باغوان لور يې قبوله کړه.

د واده په شپه چي يې ښځه و ليده ، ګوري چي نه کڼه ، نه ړنده او شوټه ده بلکي يوه ډېره ښکلې ښځه ده.

په دا سبا يې د نجلۍ د پلار څخه پوښتنه وکړه چي تا خو ما ته ويلي وه چي ستا لور هم کڼه ، هم ړنده او هم شوټه ده. دا خو داسي نه وه.

خسور يې ور ته وويل: " دا پدې چي زما لور د نامحرمه چا اواز نه وو اورېدلئ ، نامحرمه څوک يې نه وو ليدلئ او نه د نامحرمه چا کره تللې وه ځکه مي نو غوښتل چي يوه دغسي امانت کاره سړي ته يې په نکاح ور کړم.

# اختراع او کشف

د اختراع د لغات مانا داده چي که يو څوک يو داسي شی جوړ يا منځ ته راوړي چي پخوا تر دې نه وو موجود لکه اډيسن چي برېښنا (برق) اختراع کړه. ياني پخوا تر دې برق هيڅ موجود نه وو.

کشف دې ته وايي چي يو څوک يو داسي شی پيدا کړي چي پخوا موجود وو خو څوک نه وه په خبر لکه د امريکا د لويي وچي پيدا کول چي پخوا موجوده وه اما د نورو لويو وچو خلکو ته نه وه ور معلومه.

په نړۍ کي ډېر داسي انسانان پيدا سوي دي چي همېشه يې غوښتي دي چي خلکو ته د خدمت د پاره يا کوم شی اختراع او يا کشف کړي څو

انسانان وکړای سي د هغه څخه ګټه واخلي. خو یو شمېر انسانانو بیا د دغي اختراع یا کشف څخه د انسانانو د تباهي د پاره کار اخیستئ دئ. چي یو مثال یې د الفرېډ نوبل چي یو سویډنی مختریع دئ د ډینامیټ اختراع کول دي چي د لارو او سړکونو د جوړول د پاره په کار لویږي. مګر ځینو نورو بیا د ده دغه اختراع د توپو او توپکونو په مرمیو کي په کار واچول چي د انسانانو د تباهي د پاره په کار لویږي.

او یا د اډیسون د برق اختراع څومره زموږ او ستاسي انسانانو مشکلات را حل کړي دي حال دا چي یو شمېر نور انسانان بیا په بندیخانو کي د اقرار کولو د پاره د برېښنا جریان د بندیانو لاسو او پښو ته ور ایله کوي چي دا کار پخپله د انسان د عذاب سبب کیږي. او داسي نور نور.

## د خلکو خولې نه تړلي کیږي

یــو ســړی وو خــــپله ښځه ورسره وه
دی پــیاده ښځه پر خره باندي سپره وه
د مــېړه او دمــــېرمـــني مــرکـــــه وه
څـــه غیبت وو څه صفت کیسه توده وه
څـــــه له یونو څه له خواښي په ګیله وه
څه یې نوري کیسې کړې لاره اوږده وه
پـــر سړي بــاندي مېرمن وه ډېره ګرانه
یـــوه ورځ یـــــې سترړئ نه سو له بیانه
چېرتـــــه نــاسته وه ټولی د بېکارانو
مسافــر تــــــه یـــې سو پــام د ظالمانو

ویـــل ګـــورئ دا بې شرمه بې غیرته
دی پیـاده ځـي پر خره ناسته ده عورته
دا وطـن بـه لـــه بې ننګو خرابیږي
نــه لــه خلکو نــه له قوم څخه شرمیږي
نــــه معلوم دئ ورتــــه قدر د مېړونو
نـــه بـــېریــــږي د عالــم د پېغورونو
د مېــــړه مقام کتــاب دئ ذکــر کړئ
خدای پــخپله پــــه قــران کي پېژندلئ
کـموي دمــــړو قــدر بــې ننګان دي
دا بې قــومـــــه دا بې پلاره ناکسان دي
سړي واوریـدې د ډلي سپکي سپوري
لا تــر غوږ یې سوې یو څو خبري نوري
ویــل ښځي تــه پــیاده سه زه سپرېږم
ددې خلــکو لـــه پــېغور څخه بېرېږم
چي لـــه کلي څخه ووتـو دبـانــدي
زه پیــــاده ځم ته سپره له ما دوړاندي
چي پــیاده ښځه روانه سړی سپور سو
پــــه یوه ګړي کي جوړ ورته پېغور سو
ویل وګورئ ظالم چي پر خره سپور دئ
په مزلو یې ښځه مړه کړه مخ یې تور دئ
جګه ونـــــه سور یې مخ دئ اوږې پلني
پــه مړانـــه کي کمزورئ تــر مېرمني
مور او پــلار دا خــبتور دئ نــازولئ
پــه خواري یــې د لمر مخ نه دئ لیدلئ

دا لــه خدایـــه نه شرمیږي ظالمان دي
په بیابان کي ګیدړان د کور زمریان دي
چي پــه کور کي وي لوی سوي نازولي
دوی سپــاره ښځي پیاده ور سره ځغلي
هــمېشه د بل پــه لاس په نس ماړه دي
نــه د جنګ دي نه د ننګ تیار خواره دي
چــي ســړي خبري واورېدې حیران سو
سمـد ستي له خره را کښته سو روان سو
خـــر د مــــخه دوی تر شا وهل مزلونه
ویـــل ګوندي اوس به کم سي پېغورونه
لا یـــې شـــل قدمـــه نه وه اخیستلي
لا د کـــلي منځ تــه نـــه وه رسېـــدلي
چــي تــر غوږ یې سول د خلکو اوازونه
د هلــکانــو د لــویــانو ریشخندونه
دا ســړی او ښــځه دواړه لېــونیان دي
خــر د مـــخه دوی پیاده پسې روان دي
کـــه پــه پښو یې دئ دا اوږد مزل وهلئ
نـــو یـــې خــر د ځــه دپاره رانیــولئ
پــه خنـــدا یـــوه را ږغ کړله ځوانانو
لـــــه عـــالمـــه بـــې خبـره هلکانو
دغـــه خر یـــې هم ملــګرئ هم رهبر دئ
پــه دښتــو کي لار ښودونکئ د سفر دئ
دوی لــه خــره ســره روان ورسره مله دي
کــه دا خــر ور سره نه وي دوی ړانده دي

هم مـــبېره هم یې مېرمن پر دې سلا سول
لـــه ناکام ښځه سپاره د خره پر شا سول
بـیا لـه سره یې شروع خپلې کیسې کړې
ور پـــه زړه یـــې تـیرې تیرې خاطرې کړې
ورپـیاد یـــې کـړل د خلکو ریشخندونه
پـــر هر موړ باندې ښکنځل او پېغورونه
چې نـــاځاپـــه یـوې ډلـــې د ځوانانو
لـــه عـــالمـــه بـــېخبـره بـېکارانو
ویـل وګـــورئ دا څـونـــه ظالمان دي
پـــر یـوه خـره سپاره دوه تـنه لویان دي
نــه زړه سـوی لــري دا خلک نه زوریږي
نـه لـــه خدای نــه له عذاب ځخه بېریږي
نـــه یې شـرم لـــه مخلوقـــه د دنیا سته
نــه پــــه زړه کې یـــې څه وېره د عقبا سته
کـــه هر څو یې ځان لـــه موړ ښځه پردی دئ
کـــه حیوان دئ ژبـــه نـــه لري ګنګی دئ
خـو د خـــدای لـــه قهره هم بېره په کار ده
یـــوه ورځ د ټـولـو خلکو ګـور ته لار ده
پـر حیـــوان باندې چا ایښئ دومره بار دئ
خدای تـــه وګورئ یو څه انصاف په کار دئ
پــه قیـامت بـــه راژوندی دغه حیوان سي
سمـد ستي بـــه د خاونـد پر لور روان سي
دی به ځغلي خر به جګ ور باندې سپور وي
پــه اوږو بــه ســا شـړي مخ به یې تور وي

لـــه مېـــږه لـــه ښځي ورکـــه سولـــه لاره
هـم لـــه خره هم لـــه سفره ســـوه بـــېزاره
مېـــږه بـــيا پـــه پښو روان ښځه سپره سوه
بـــيا لـــه ســـره هغه نـــوې نـــنداره سوه
دروازې د ښـــار بـــنديـــږي پـــه قلفونو
څوک تـــړلای نـــه سي خولـــې د عالمونو

(جهاني)

# صابون

صابون د شيانو د پاکوپرېولو سره مرسته کوي. ياني يو شی يا کالی چي خيرن وي په اوبو سره د صابون په مرسته پاکيږي.
ځيني صابونونه په يخو اوبو کي هم کار ور کوي او ځيني صابونونه بيا په تودو اوبو کي ښه کار ور کوي او کالی يا لوښی ښه پاکوي. دمخه تر دې چي صابون اختراع سي نو انسانانو يو ډول بوټي وچول او بيا يې هغه ميده کول او په اوبو کي يې اچول او خپل کالي يې په هغو باندي پرېولل. دمثال په توګه دغه بوټی په افغانستان کي د ( بروځي ) په نامه ياديږي چي تر اوسه هم ورنه ګټه اخستل کيږي. تر اوسه پوري د تبرک د پاره په بروځه مړي ته غسل ور کوي .
صابون څو ډوله دئ لکه :
د ځان پرېولو صابون
د کالو پرېولو صابون
د لوښو پرېولو صابون

اوس په نړۍ کي د هر څه د پاکولو دپاره ډول، ډول صابونونه جوړ سوي دي .

د ځان پرېولو صابون :

په پخوا کي چي په افغانستان کي صابون نه وو نو خلکو چي به ځان پرېولئ يوازي به يې اوبه په کار اچولې. او کله چي به يې مړی پرېوله نو به يې د بروځي څخه کار اخيسته مګر کله چي صابون وپېژندل سو نو دغه بروځي په افغاني دود کي خپل ځای صابون ته پرې نه ښود او تر اوسه پوري مړی د غسل ورکولو په وخت کي په بروځه مينځي او حتی دلته په سويډن کي لا هم چا او چا بروځه دځان سره راوړې ده. خلک بروځي ته د تبرک په ستر‌ګه ګوري. کوم صابون چي د ځان پرېولو دپاره پيدا سو دغه ښه بوی ورکونکئ ( خوشبويي ) صابون وو چي ډېر ښه بوی به يې ور کاوه او په يوه ښکلي کاغذ کي به يې پېچلئ وو. خلکو چي به دغه صابون په صابوندانۍ کي کښېښود نو هغه کاغذ به يې د کالو په بوخچه کي د کالو په منځ کي کښېښود چي کالو ته ښه بوی ور کي . په دا وروستيو وختو کي په افغانستان کي هم دغه صابون په کندوز کي په يوه فابريکه کي جوړېده .

د کالو پرېولو صابون :

په افغانستان کي پخوا يوازي او يوازي هغه صابون خلکو په کار اچاوه کوم چي په تودو اوبو کي به يې کار کاوه او د تودو اوبو صابون يې باله. دا صابون يې په خپله په افغانستان کي جوړاوه او په دا ډول :

اشخار به يې چي د ډبري په شان مواد وه په اوبو کي خيشته کړه او اوبه چي به يې ځلالي سوې نو به يې په يوه لوی دېګ کي واچولې او وبه يې ايشولې. بيا به يې د پسه، غوايي، اوښ او وزو وازګه ( غوړي ) پکښي واچوله او وبه يې ايشول تر څو چي صابون به پوخ سو نو وروسته به يې د حوض په شان په يوه ځای کي توی کړ څو وچ سي. کله چي به وچ سو نو بيا به يې په لويو لويو چړو پرې کړ او په دکانو کي به يې خرڅاوه.

کله چي به کوم پسه يا غويی پخپله مړ سو نو غوښه به يې د خوړلو نه وه ځکه مرداره وه نو هغه به يې د غوښو او هډوکو سره د صابون دېګ ته ور اچاوه څو د

هغه څخه هم صابون جوړ سي.
دغه صابون څخه چي به تر استعمال وروسته کوچنی کوچنی ټوټې پاته سوې هغه به بیا ښځو د نورو شیانو سره ګډولې او د چایو په پیالو کي به یې یخی کولې او ښځو به د مخ د پاکولو د پاره په کار وړه.
تر دې وروسته بیا د سړو اوبو صابون منځ ته راغئ چي په کندوز او هلمند کي یې فابریکې وې.
د لوښو پرېولو صابون:
په افغانستان کي د لوښو پرېولو صابون پخوا نه وو. خلکو لوښي په ایرو، ریګو او وچه توری پرېوله. بختوري ښځي به نو د لوښو پرېولو دپاره تودې اوبه درلودې کنه نو هغه یخي اوبه او هغه رېګ او ایرې به وې. څه نا څه دېرش کاله پخوا یو ډول شین رنګه صابون په بازارو کي پیدا سو چي خلکو به د لوښو د پرېولو په وخت کي کار ځیني اخیسته.

# ناکامي د ارادې له مخه تښتي

په کلک عزم کـي هیڅ خوف و خطر نشته
د بـې عــزمــو بـــرکت د هنـــر نشته
بـــاز بـــاښه پـــــه بال د عزم صیادي کا
هســـي نـــه چـــي د ټپوس بال و پر نشته
پــــه طلب ســـره مـــقصد موندلی کیږي
دا حــــدیث دئ پکښي هیڅ لر و بر نشته
پــــه غــوټو تـــر لاسه کیږي خوشال وایي
چـــا ویـــل چي په دریاب کښي ګوهر نشته

د مجنــون پــه رنګه کلک عزم په کار دئ
نــــــه چــي بـل لـکه ليلی ښه بشر نشته
نــاکامـــي د ارادې لـــه مـــخه تښتي
تاب د ستوري هيڅ په مخ کي د لمر نشته
بـــې کـــوښښـــه مشـــکل کله اسانيږي
چي کلي وي کلک تــــړلئ هيڅ ور نشته
که هر څو توپ و توپـک ټانکونه ډېر وي
بېــله عــزمــه پــه ميدان کي ظفر نشته
زه پـــخپلـــه اراده غــښتلئ ښـــه يم
څه حاجت که زغره خول مي پــه سر نشته
د مــردانــو ډول و ډال ښـــکلې وسله ده
خـو بـې عـــزمه يې د غــوڅي جوهر نشته
د پښتون ګاڼه "اخلاص" عزم و همت دئ
چــا ويـــل چـــي د مـــردانـــو زېور نشته

## پېښه

يو سړی پر اس سپور وو پوله يې خوړل ، د ډېر تېز باد له امله يې پوله باد وړل او خولې ته يې هيڅ نه رسېده . يو بل سړی چي پر هغه لار تېرېده پوښتنه يې ځني وکړه : "وروره ! څه شی خورې ؟"

د اس سپاره ورته وويل : "که دا باد وو ګوا هيڅ ."

# د اسلام پنځه بناوي

د اسلام مبارک دين چي يو مقدس او د اسماني اديانو وروستی دين دئ د بشريت د ډېر لوړ او ښه شخصيت حضرت محمد مصطفی په واسطه د انسانانو د لار ښووني د پاره پدې ډول ابلاغ سوئ دئ :

بنی الاسلام علی خمس :
شهاده ان لا اله الا الله و ان محمد رسول الله . و اقام الصلواه . واتا الزکوه . والحج . والصوم رمضان .

د پورتني حديث شريف مانا دا ده :
اسلام پنځه بناوي لري لکه : پاکه کلمه ، لمونځ ، زکات ، حج او روژه .

لومړی : پاکه کلمه (لا اله الا الله محمد رسول الله)
مانا يې داده چي بېله دغه خدايه څخه بل خدای نشته کوم چي حضرت محمد (ص) يې رسول دئ. دغه کلمه اسلام ته داخلېده ياني عقيده ده .

دوهم : لمونځ هغه جسماني عبادت دئ چي پاک خدای پر مسلمانانو باندي په يوه شپه او ورځ کي پنځه واره پر ټاکلو وختو فرض کړئ دئ لکه سهار ، ماپښين ، مازديگر ، ماښام او ماخوستن .

يادونه : فرض هغه کړه دي چي خدای تعالی پر خپلو بنده گانو امر کړئ دئ . او سنت هغه کړه دي چي حضرت محمد (ص) کړي وي او يا

يې خپل امت ته ويلي وي.

ببله دغه پنځه وخته لمونځ څخه نور لمونځونه هم سته لکه: د جمعې د ورځې لمونځ، د اختر لمونځ، د تراويح لمونځ، د جنازې لمونځ او د تهجد لمونځ او نور.

څرنګه چي اسلام نظافت (پاکي) ډېر خوښوي نو ځکه بايد سړی اودس ولري او بيا لمونځ وکړي.

پدغه لاندي ايت شريف کي راغلي دي چي خدای تعالی توبه کوونکي، ستره او پاک او ستره کسان خوښوي.

ان الله يحب التوابين و يحب المطهرين.

پدغه لاندي حديث شريف کي راغلي دي چي نظافت او ستره ګي د ايمان د اثارو څخه دي.
النظافه من الايمان.

دريم: روژه چي د اسلام د پنځو بناوو څخه يوه بنا ده، پر هر مسلمان چي جوړ، بالغ او مقيم وي فرض ده.

څلرم: زکات د اسلام د پنځو بناوو څخه يوه بنا ده، پر هر شته من مسلمان فرض دئ چي و غريبانو ته په يوه معينه اندازه پيسې يا غله ور کړي. پر مال باندي هم زکات فرض دئ او مال پر دوه ډوله دئ.

۱ - لکه سره زر ، نقدي پیسې او د تجارت مالونه ، پسونه ، غوایي او اوښان. د دغو شیانو زکات د دغو شیانو د ارزش څلوېښتمه روپې ده یاني دوه نیم فیصده.

۲- غلې ، مېوې یاني ټول کرل سوي شیان چې زکات یې لسمه برخه دئ. زکات د هجرت په دوهم کال تر روژې د مخه فرض سوئ دئ.

پنځم: حج هم د مسلمانۍ د بناوو څخه یوه بنا ده ، پر هر شته من مسلمان په ژوند کي یو وار فرض دئ.

د حج مراسم بېله احرام څخه نور ټوله په مکه شریفه کي پر ځای کیږي. یوازي احرام دئ چې مکې شریفي ته تر ننوتلو دمخه به لا سړي وهلئ وي. د نارینه احرام تقریبا پنځه متره سپین ټکر دئ چې پر دوو مساوي برخو وېشل سوئ وي ، یوه برخه یې لونګ او بله برخه یې د اوږو د پاسه پر ځان را پېچلئ وي. د ښځو د پاره احرام سپین کالي او د سر یو سپین دسمال وي.
د مکې شریفي طواف کول ، د صفا او مروا د غرو تر منځ تلل او را تلل ، د اختر په درو ورځو کي د شیطانانو ویشتل او د مدینې منورې په حرم کي څلوېښت لمونځه کول و د مدینې زیارت کول دي.

# دا ته او دا دي دېګ

یوه سړي یوه ورځ کور ته غوښې راوړې او مېرمني ته یې وویل چې پخې یې کړي.

مېرمني یې وویل: "موږ دېګ نه لرو چې دغه غوښې پکښې پخې کړم."

سړی ولاړئ دیوه ګاونډي د کور څخه یې یو دېګ راوړ. غوښې یې پخې کړې ګاونډی یې هم راغئ د دوی سره یې ډوډۍ وخوړه ښه خوند یې ځني واخیست. پدا سبا ورځ یې نوري غوښې راوړې او پخې یې کړې. د خوړلو په وخت کې د دېګ مالک هم راغئ او غوښتل یې چې نن بیا د دوی سره په ګډه ډوډۍ وخوري. د کور خاوند پوښتنه ځني وکړه چې:" خیریت خو دئ چې ته هره ورځ راځې او زموږ سره یو ځای ډوډۍ خورې؟"

د دېګ خاوند ورته وویل: "ما تاسي ته دېګ در کړئ دئ."

د کور خاوند دېګ د غوښو سره د سرای مابین ته ور و غورځاوه او د دېګ مالک ته یې و ویل:" دا ته او دا دي دېګ، وړه یې چې بیا را نه سې."

# د مورچل ځوانه

ځوانــه دا څـوک يې چې ګولۍ اوروې
د خپـل نيـــکه او د بـــابـــا پر کلي
دې هــديره کې دې خپلوان پــراته دي
څوک يې پرون څوک يې پخوا ويشتلي

بـــيا غـــاړکـــۍ د امـــيلونو ډکي
بـــيا دې اوړې لـــه راکـــټونو درنې
بـــيا د اهـار تـــږې مورچل ته درومې
بـــيا دې پر سترې مخ را ماتې خولې

بـــيا لکه بـــاز پر لوړو څوکو ګرزې
بـيا دې مـــيدان ته سترګې سرې نيولې
پـــر کـــومـــو مځکو به مرمۍ اوروې
کـــومې ځـــوانۍ دې په قسمت ليکلې

دلـــته چـــې ته پر ماشه ګوته ايږدې
هـــلته لـــه مځـــکې نـــه اورونه زيږي
ســـتا د ګـــولـــيو د بـــاران له وهمه
اوس پـــر دښـــتونو غوټۍ نه سپړيږي

لـــه هـــرې لـــويشتې جنازې را پاڅي
د مـــرګې چـــغو کـــلی کور اخيستئ
پـــر شنـــو جـلګو باندې دودونه ګرزي
ځـــوانـــه خبر سوې کابل اور اخيستئ

د خــــدای د پـــاره ځـــوانه مه اوروه
د خـــپل ابـــا پـــر مېنه سره اورونه
پـــرېـــږده وراره دي د ابۍ په غېږ کي
وويـــني ګـــرم او مـــاشـــوم خـــوبونه

پـــرېـــږده چي بيا دا سوځېدلي دښتي
د پـېغلو ځــــنهو تـــه ګـــلونه راوړي
د غـــم لـــه ساندو ستړي سوي کوځې
بـــيا اتـــڼونـــو تـــه ډولـــونه راوړي

پـــرېـــږده چي بيا د شنه اسمان پر لمن
سپـــوږمـــۍ تـــه ستوري امېلونه راوړي
بـــيا د ادم ربـــاب نـــغمې ويښې کړي
د مـــيني خـــوب تـــه تعبيرونه راوړي

بـــلا دي واخـــلم مـــېړنـــيه ځوانه
پـــرېـــږده مورچل دا د خونيانو ځالۍ
دا ســـتا د پـــلار ســـتا د ټبر قاتلان
دا د رهـــزنـــو لـــوټمـــارانـــو ټولۍ

ســـتا د ښـــادۍ د غـــليمانو زړونه
پـــه تـــباهـــيو بـــانـــدي نه سړېږي
دا د پـــرديـــو پـــر کـاسو لوی سوي
زمـــوږ بـــېګانـــه پـــه وينو نه مړېږي

پـــرېـــږده چي سره کي د قدرت لېوني
پـــه بـــېګانـــه ويـــنو خيرن لاسونه
تـــه لـــه مـــورچـــله ګولۍ مه اوروه
ځـــوانـــه واري دي ســـم کاږه برېتونه

(جهاني)

# چا ته په سپکه سترګه مه ګورئ

ټول انسانان یو ډول پیدا سوي دي او د یوه خدای (ج) مخلوق دي. د ټولو د وینو رنګ سور دئ. فرق نه لري که ځیني عارضي تفاوتونه موجود وي. خو دا فرقونه د انسانانو د وینو رنګ او د انسانیت جوهر نشي بدلولای. بډایي یا غربت ، لوړوالئ یا ټیټوالئ ، تنګسه یا استراحت پر انسانانو راځي او ځي. خو حقیقي انسان هغه دئ چي په بډایي ، لوړوالي او استراحت دومره مغروره نه سي چي ځان ورک کړي او هر څوک تر ځان کښته و بولي او یا هر چا ته په سپکه سترګه وګوري او نه په تنګسه او غربت کي دومره کمزورئ سي چي خپل ځان بایلوي او د ژوندون د مجادلې په ډګر کي وارخطا او ژړه غونئ و درېږي.

که ته غریب نه یې او د ډیرو مځکو ، باغو او پیسو خاوند یې ، نو دا باید د دې باعث نه سي چي غریبانو ، بې مځکو او بې پیسو خلکو ته په سپکه سترګه وګورې....

دا مځکي او باغونه په دغو غریبانو ودان دي ، نه یوازي دا بلکي د ټول جهان په وداني کي لوی لاس لري.

که څه هم پخپله یوه جونګړه نه لري خو د دوی په لاس ډېر لوی کورونه جوړ سوي دي ، که د ځان د پاره ونه هم نه لري چي تر سیوري لاندي یې کښېني ، خو ډېر لوی باغونه د دوی په زیار او زحمت سمسور دي. د دوی دا زیار د قدر وړ دئ او د لاسو تناکي یې مرغلري دي. نو مه ګوره ختګر ، کارګر او بزګر ته په سپکه سترګه مه ګوره!

هر مشروع کسب مبارک دئ او هر کاسب د خدای دوست دئ.

# غوره دعا

یووه شپه مي په یوه کوټه کي د یوه نا اشنا مسافر سره شپه سوه. شپه چي پخه سوه خپلو چرتونو د خوبه را ویښ کړم، څه اواز مي تر غوږ سو، چي غوږ مي و نیوئ، د کوټې د ګوټ نه مي د نا اشنا مسافر له خولې دا دعا تر غوږ سوه:

"خدایه قوت راکې چي:
چېرته تیاره وي، هلته رڼا راولم.
چېرته ظلم وي، هلته عدل او انصاف راولم.
چېرته غم وي، هلته ښادي او خوښي راولم،
چېرته نا امیدي وي، هلته امید پیدا کړم.
چېرته نفاق وي، هلته اتفاق راولم.
چېرته کرکه او کینه وي، هلته مینه او محبت راولم.
ما ته د هغه چا سره د مرستي قوت او توان راکړې چي ملا تړ او مرستیال نه لري."

# دعـــا

خدایه دا توري تیارې پــــر مورِ رڼا کړه
دغه توره شپه یــو ځـل پر مورِ سبا کړه
پر اسمان مو تــوري لړي چي خورې دي
خدایه تـــه لـــه دغو وریځو امان راکړه
دا خواره واره چي بیا سره یو ځای سي
په هیواد کښي مو پیـدا هسي فضـا کړه
مرګ او ژوبلي مو وطـن پر سر اخیستئ
سوله‌ییز ژوند مو وطـن کي را پیدا کړه
چـــي کـــورونه ورانــــوي انسانان وژني
دا دښـــمن د بـــشریت تـــــه پوپنا کړه
چي د نورو په نیستي کي هستي غواړي
دا پــــر ځان باندي مین خدایه رسوا کړه
د خپل پـــاک حبیب سپېڅلي مخ ته ګوره
له مرګ ژوبلي ځیني خلاصه مو دنیا کړه
د غـــــروال پر وطن سرې سکروټي اوري
لـــــــه دې اوره په امان دښتي ببدیا کړه

# ښې مشورې

یو سړی په سفر روانېده ، یوه هوښیار سړي ته د مشورې د پاره ورغئ چي د چا سره ملګرتیا وکړم او د چا څخه ځان وساتم ؟
هوښیار سړي ورته وویل :"
د اتو کسانو څخه ځان ساته !"

١ ـ چي احسان دي نه مني .
٢ ـ چي بې ځایه قهر ورځي .
٣ ـ چي اخرت ته بې پروا وي .
٤ ـ چي ټګ او غولوونکئ وي .
٥ ـ چي حوسي او حرصناک وي .
٦ ـ چي درواغجن وي .
٧ ـ چي بې حیا وي .
٨ ـ چي بد ګومانه وي .

او د دغسي اتو کسانو په لټه کي اوسه :

1 ـ چي نیکي او ښه دي مني .
٢ ـ چي په سختي کي دي د اشنایي څخه لاس نه اخلي .
٣ ـ چي وینا او کړه یې دواړه ښه وي .
٤ ـ چي بې کبره وي .
٥ ـ چي عقل یې تر قهر ډېر وي .
٦ ـ چي بې تمي وي .

۷ـ چي با ادبه وي.
۸ـ چي د نېکانو ملګرئ وي.

# ښه مېرمن

يوه سړي يو سپين ږيرى او بوډا سړى په شا ډاکتر ته د معالجې د پاره راوړ. ډاکتر د روغ سړي څخه پوښتنه وکړه چي: " دا پلار دي د څو کالو
دئ؟"

روغ سړي ورته وويل: " دا مي پلار نه دئ دا مي زوى دئ." ډاکتر په ډېر تعجب و پوښته چي: " ته ولي داسي ځوان يې او زوى دي داسي سپين ږيرى او بوډا دئ؟"

روغ سړي جواب ور کړ: "دا ځکه چي زه په کور کښي يوه نېک کرداره، په ژبه پوه، کاريګره او ډېره خوشاله مېرمن لرم، کله چي د کور څخه د باندي يم نو په ډېر ډاډه او قوي زړه کار کوم او کله چي په کور کي يم، د دې په خندا ټوله ستړيا او غمونه را څخه ليري کيږي. خو د زوى مي داسي ښځه ده چي هر کله سره ويني د دواړو روحي رنځ زيات شي، ځکه چي تر منځ يې روحي توافق نه سته او بل دا چي ښځه يې ډېره عصبي، بېکاره او ناپوهه ده، نو هم دا سبب دئ چي زما زوى دې حال ته رسېدلئ دئ."

# په افغانستان کي لومړني اخبارونه

## شمس النهار:

کله چي سید جمال الدین افغان په (٦٩ - ١٩٦٨) میلادي کي چي د دریم ځل د پاره خپل ګران هیواد افغانستان پرېښودي نو امیر شېر علي خان ته ورغئ او وروسته تر هغه چي د تګ اجازه یې ځني واخستله یو څو مواد یې د اصلاحي پروګرام په شکل امیر ته وړاندي کړل چي یوه ماده یې په کابل کي د یوې جریدې (اخبار) د نشرولو پېشنهاد وو.

هغه وو چي امیر په (١٢٩٠) هجري قمري کال د یوې هفتګي جریدې د نشر سره د (شمس النهار) په نامه موافقه و کړه او په هغه کال هغه اخبار نشر سو.

دا اخبار په هفته کي یو وار په ١٦ مخو کي خپرېدئ. په لومړي مخ کي یې د شمس النهار کابل عنوان د دوو زمریانو تر منځ راغلئ وو چي د هر زمري په یوه لاس کي توره او په بل لاس کي یې دغه د اخبار نوم نیولئ وو.

## معرف معارف:

دا په افغانستان کي د معارف (ښووني او روزني) لومړنۍ مجله وه چي د ښووني او روزني د خوا د (١٢٩٨) هجري شمسي کال د سنبلې د

میاشتي په لومړۍ ورځ نشر سوې ده.

دا مجله ډېره کوچنۍ وه، په لومړي کال کي یې دېرش مخه او په دوهم کال کي یې شپېته مخه درلودل.

دا مجله د ۱۳۰۱ هجري شمسي کال د ثور تر میاشتي خپره سوه.

## ارشاد النسوان:

د ۱۳۰۰ هجري شمسي کال د حمل د میاشتي په اوله نېټه د پنج شنبې په ورځ د لومړي ځل د پاره په کابل کي د مېرمنو مخصوصه جریده (اخبار) د ارشاد النسوان په نامه خپره سوه.

دا جریده مخصوصه د مېرمنو د پاره وه چي پخپله د مېرمنو د خوا اداره کېده.

مدیره یې محترمه مېرمن (اسمار) د ښاغلي فاضل محمود بېګ طرزي ماندینه وه.

دا جریده په هفته (اونۍ) کي یو وار د پنجشنبې په ورځ په کابل کي خپرېده. دا جریده لومړی په څلورو مخو کي چاپېده، خو تر دوولسمي ګڼې وروسته په اتو مخو کي خپرېده.

# مېرمن زينبه

ډېر پخوا په افغانستان کښي ښځو هم د نارينوو په شان د پوهي او زده کړي سره مينه درلوده ، د دې هيواد په تاريخ کښي ډېرو ښځو د هغه وخت رواج علوم لوستي او زده کړي دي چي د هغه جملې څخه دلته د مېرمن زينبي ژوند او پوهه د مثال په توګه لولو .

دا مېرمن د ملي مشر ميرويس خان لور ده چي له کوچني والي څخه يې په لوست او ليک پيل وکړ ، پسله هغه چي قران شريف يې و لوست د نورو اسلامي کتابو په لوست يې پيل وکړ ، د اسلامي فقي کتابونه يې و لوستل او د فارسي مشهور کتابونه يې زده کړه . استاد يې ملا نور محمد غلجی وو چي ډېر وخت يې د حرم و غړو ته درس ور کاوه .

مېرمن زينبه ډېره هوښياره ښځه وه چي هر وخت به يې د هغه وخت پاچا شاه حسين ته د مشکلاتو پهوخت کښي مشورې ور کولې او پاچا يې و خبري ته غوږ نياوه .

دې مېرمني ښه ښه اشعار ويلي دي او هم يې د شاعرانو قدر کړئ دئ . عمر يې د خدای تعالی په عبادت کي تېر کړئ دئ .

کله چي د خپل ورور شاه محمود د مرګ د احوال څخه خبره سوه ډېره غمګينه سوه . دې مېرمني خپل غم د قران کريم په لوستلو او د لمونځو په کولو سره تسکين کاوه او د ورور د مړيني په مناسبت يې دغه ويرنه و ليکل :

ږغ سو چي ورور تېر له دنيا سو نا
قــــندهـــــار واړه پــــه ژړا سو نا
زړه مــي پــه ويـر کي مبتلا سو نا
چــي شــاه محمود له ما جلا سو نا
دا روڼ جــهان راتـــه تور تم دئ نا
زړه د بــــېلتون پـــه تېغ کړم دئ نا
هــوتــک غمجن په دې ماتم دئ نا
د پـــاچــهۍ تــاج مــو برهم دئ نا
چــي شاه محمود تېر له دنيا سو نا
قــــندهـــــار واړه پــــه ژړا سو نا
ځــوان وو مېړه د توري جنګ وو نا
ولاړ د کـــام پــر نـام و ننګ وو نا
دښــمن لــه ده پــه وينو رنګ وو نا
پـــر ميـــدان شير وو يا پلنګ وو نا
افسوس چي مرګ د ده په خوا سو نا
قـــندهـــار واړه پــــــه ژړا سو نا
مــحموده نـــه يـــوازي خـور ژاړي
پــر مـــرګ دي ټـوله کلئ کور ژاړي
خپــلوان لا څـه پاچا دي ورور ژاړي
لښــکر سپـــاه پـــلئ سپـــور ژاړي
پښتـــون دي ټــول په واويلا سو نا
قنـــــدهـــــار واړه پـــه ژړا سو نا

# په پښتوانې افغانستان کې د الوتنې لومړی فکر

په هوا کې د الوتلو او خارجي فضا ته د تللو فکر د ډېر پخوا څخه د بشر په دماغ کې ځای نیولئ وو. تر میلاد د مخه پېړیو څخه چې کیکاوس خپل بالون د څلورو ورېو عقابانو پر وزرو وتاړه او د بالون پورته یې غوښې و ځړولې چې عقابانو د غوښې په تمه پورته هڅه کوله او بالون به یې فضا ته خېجاوه، بیا تر اوسه پورې انسانانو ډېرې قربانۍ ور کړې دي چې پدې قربانیو کې افغانستان هم زر کاله پخوا بې برخې نه دئ پاته سوئ.

د مثال په توګه د ۳۹۳ هـ ۱۰۰۳ م کال پېښه د یادولو وړ ده چې په خراسان کې اسماعیل ابو نصر جوهري ځان ته د لرګیو څخه وزرونه جوړ کړه، بام ته و خوت او خلکو ته یې نارې کړې "ما بې سابقې څه جوړ کړي دي او زه اوس الوزم" د نیشاپور خلکو ور ته کتل، ده د لرګیو د وزرو سره ځان له بامه را ایله کړ، اختراع یې نا کامه او دی د الوتلو د فکر قرباني شو.

(د خیرالدین زرکلي د الاعلام څخه)

## د کتاب لغاتونه:

### حمد

| | | | |
|---|---|---|---|
| مناجات | دعا | باري | د خدای(ج)نوم دئ |
| فضل | ورکړه، بخښنه | سبحان | پاک |
| بې حده | ډېر زيات | غفار | بخښونکئ |
| ستار | پټوونکئ | بد کردار | بد عمله، بد کاره |
| رحمت | بخښنه، مهرباني | نيکي | ښه والئ |
| نفرت | بد راتلل | اعضا | د بدن غړي لکه لاس، پښه.... |
| امان | ساتنه | پنهان | پټ |
| حرمت | عزت | توفيق | توان، طاقت، قوت |
| تاعت | بندګي | | |

### د افغانستان جغرافيې ته يوه کتنه

| | | | |
|---|---|---|---|
| تخمين | اندازه، ګومان | سلسله | پر له پسې والی، لړۍ |
| سرحد | هغه سيمه چي په هغه يو هيواد د بل څخه جلا کيږي | | |
| سرچينه | پيل، ځني راوتل | جريب | ۲۰۰۰ مربع متره |
| صنعت | فابريکې | وحشي | چي د انسانانو څخه ليري ژوند کوي |

### نوي نسل ته

| | | | |
|---|---|---|---|
| نسل | اولاده | معايب | خراب يا بد شيان، عيبونه |
| مغرب | لوېديز، اروپا، امريکا | غوره | خوښ، ښه |
| محاسن | ښه والی | ترېنه | ځني، ور څخه |
| نام | نوم | ننګ | غيرت |
| فرهنګ | پوهه، زده کړه | زيار | زحمت |
| مدام | هر وخت | نظر | فکر، ليدنه |
| جدو جهد | کوښښ، زيار | ستومانه | ستړئ |
| اغزی | زوز، خار | څيز | شی |
| مامور | ابات، موړ | فن | هنر، پوهه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| لباس | کالي | عرفان | پوهه ، ښوونه او روزنه |
| مشعل | څراغ | افراط | تر اندازه ډېر |
| تهذیب | انسانیت ، پاکول | غضب | قهر ، عذاب |
| مبتلا | اخته | تفریط | تر اندازه کم |
| ایین | دین ، لاره | منع | بند |
| رهبانیت | دنیا پرېښودنه | جاده | لار ، کوڅه |
| اعتدال | یو برابر | اعظمي | په زیاته اندازه |
| په توګه | په ډول ، په شان | استفاده | ګټه اخیستل |
| کسب | یو کارلکه نجاري | کمال | هنر ، څه زده |

## د ژوند لاري چاري

| | | | |
|---|---|---|---|
| قناعت | بسوالئ | ستر | لوی |
| تقوی | پرهېزګاري | عادل | انصاف لرونکئ |
| رزق | روزي ، خواړه | حرام | منع ، بند |

## بې نیازي

| | | | |
|---|---|---|---|
| ګنجونه | خزانې | حاجتونه | اړتیاوي ، کموالي |
| جاه و جلال | عزت ، قدر ، لویي | ذایقه | خوند |
| اشتها | خوړو ته زړه کېدل | مست | څه چي یې زړه غواړي هغه کوي |

## توریالي او مېړني اوسئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| کل | ټول | سندره | غزل |
| مفهوم | مانا | محروم | بې برخي |
| معرفي | ور ښودل | ګفتار | خبري |
| عیب | خرابي ، بدوالئ | مهره | د زهرو پر ضد په کار لویږي |
| تندر | تالنده | دینار | پیسې ، روپۍ |
| اعتبار | عزت | فخر | سر لوړی ، ویاړ ، نازېدنه ، لویي |
| زنان | ښځې | مردان | نارینه |
| لټوي | پسې ګرزي | زېب | ښکلا ، ښایست |
| پېغور | طعنه ، داسي خبري چي په اورېدو یې سړی په ځان کي کموالئ حسوي | | |
| زینت | ښکلا | هم اغوش | خوښوونکئ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| فراغت | ارامي | هر دم خیال | چي پر یوه حال نه وي |
| عزم | اراده ، نیت | استقامت | ټینګوالئ |
| عالم | دنیا، خلک | خوځي | ښوري ، ځي |
| هسي | دا ډول | تحمل | زغمنه ، صبر ، پر ځان وړل |
| هزار | زر | تنګي | سختي |
| وسواسي | چي پر یوه حال نه وي | متردد | شک من |
| وینا | خبري | محکم | ټینګ |
| ورغله | د ژوند لاري ځاري | توانېدل | طاقت در لودل |
| همواره | هواره | فریاد | نارې |
| انبار | کوټه ، ډېر | | |

## چي په خوی باندي کمکی وي بابا نه دئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| کمکی | وړوکئ، کوچنی | بینا | چي په سترګو ویني |
| وړاندي | مخ ته، په مخ کي | ډېوه | څراغ |

## پښتو متلونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| دلچسپي | په زړه پوري والئ | شفاهي | په خوله ویل |
| رواج | چي د خلکو تر مینځ وي | تلوار | ژر والئ |
| تامل | صبر ، درېدنه | پلئ | پیاده |
| بېکاري | بې پیسو کار کول | مزل | لاره |
| قیاس | اندازه ورته ایښودل | ګور | قبر |

## د نیکه ږغ

| | | | |
|---|---|---|---|
| ګرفتار | بند، اخته | ازار | په زحمت |
| بېزار | نه غوښتل | ګرم | ملامت |
| کهسار | غر | پرهار | ټپ ، زخم |
| کوګل | ځیګر ، خالي ځای | شیدایي | زړه بایلل ، مین |
| څېر | ډول ، رقم | جدایي | یوازي والئ |
| افسوس | ارمان، ای کاشکي | مجنون | عاشق ، مین ، لېونی |
| زبون | خوله، خوار ، عاجز | چاپېر | شاوخوا |
| زېر | لاندي | فراق | جلاوالئ |
| ټبر | قوم | هجران | لیري والئ ، زحمت |

| | | | |
|---|---|---|---|
| رویبار | خبر رسوونکئ | تراب | وژل ، مړ کول |
| اغیار | بېگانه ، پردی | حاصل | په لاس راوړل |
| نسکور | لوښی چي چپه واوړي | وصل | یو ځای کېده |
| زندگاني | ژوند | منتظر | سترگي پر لاري |
| افگار | خوږ ، زخمي | همت | مړانه |
| گوندي | امید دئ | برهم | خراب ، تباه |
| فاتح | د یوې سیمي نیوونکئ | بېلتون | جلاوالئ |
| جگر خون | خوا شینئ ، خوابدئ | اخلاص | د زړه په غوښتنه |
| مفتون | چي سړي پر یو شي زړه بایللئ وي | | |
| رقیبان | سیالان ، حریفان ، دوه تنه چي یو شی غواړي نو دوی دوه یو د بل رقیبان بلل کیږي | | |

## کله چي تاوون راغئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| تنفس | سا کښل | جریان | تېرېدل |
| سلسله | یو په بل پسې ، لړۍ | نفوس | خلک ، د یوه هیواد رایت (رعایت) |
| اړیکي | مناسبات ، یو ځای والئ | سودا گري | تجارت |
| تعقیبول | پسې گرزېدل یا تلل | | |

## بې پته خویونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| سوگند | قسم | اشنایي | شناخت ، ملگرتیا |
| بې پته | بې عزته ، بې ابه | خوی | عادت ، خاصیت |

## دهقاني

| | | | |
|---|---|---|---|
| دهقاني | بزگري ، باغواني | مالدار | ژیوي (حیوانات) لرونکئ |
| پټی | کښت ، د کرلو ځمکه | پاس | لوړ ، پورته |
| نغمې | غزلي | غنچې | ډېر گلان چي سره دسته سوي وي |
| کوچ | کوچي | پېروئ | د تودو شیدو پر سر یوه پرده ده |
| صحت | روغتیا | برکت | ډېروالئ ، خیر |
| عالي | لوړ | همت | غیرت ، زحمت |
| ډگر | میدان | بیابان | میدان ، سارا ، دښت |

| | | | |
|---|---|---|---|
| گلستان | باغ | ثنا خوان | دعا کوونکئ |
| طعام | خواړه | فاکهه | مېوه |
| سمسور | ابات ، جوړ ، ودان | | |

## کیسه

| | | | |
|---|---|---|---|
| خوا شینئ | خفه ، خوابدئ | سمدستي | ژر |
| تپوس | پوښتنه ، سوال | | |

## ایمان او اسلام

| | | | |
|---|---|---|---|
| یقین | باور ، منل | مومن | ایمان لرونکئ |
| منافق | چي په خوله یو څه وایي او په زړه کي یې بل څه وي | | |

## په خوله اقرار او په زړه تصدیق

| | | | |
|---|---|---|---|
| اقرار | منل | تصدیق | منل ، رښتیا بلل |
| خیر | ښه کارونه | شر | بد کارونه |
| پاڅښده | ولاړېده ، پورته کېده | ذات | خاوند ، حقیقت ، جوهر |
| کاینات | ټوله دنیا | سارئ | شریک ، هم ډوله |
| سر غړول | نه منل | روزي | خواړه |
| وحي | د خدای (خبري) چي د ملایکو له خوا پیغمبرانو ته ر جبرایل (ع) له خوا راوړه کېدې | | |
| قبض | ځني اخیستل | نازل | را لېږل |

## اسلام سوله خوښوي

| | | | |
|---|---|---|---|
| عدالت | برابري | امن | ارامي |
| عداوت | جنګ ، خوابدي | | |

## د حدیبې د سولي جرګه

| | | | |
|---|---|---|---|
| انصار | کومکیان ، د مدینې خلک | داخلېده | ننوتل |
| بحث | خبري ، مناقشه | لاسلیک | امضا |

## د ژبي اهميت

| | | | |
|---|---|---|---|
| اهميت | ارزش ، قدر | زمان | وخت |
| منظوره | منل سوې، قبول سوې | کاتب | ليکونکئ |
| دم په دم | ژر ، دستي | دستور | طريقه ، لار |
| خوزول | ښورول | چاپېر | شاوخوا |
| مطلب | مقصد ، هدف | غور | پاملرنه |
| مجال | امکان | | |

## کيسه

| | |
|---|---|
| پېټئ | بار ، د غنمو يا اوړو جوال |

## ګيدړه او بڼ

| | | | |
|---|---|---|---|
| موږۍ | سوری | سنجول | لاره پيدا کول |

## صداقت

| | | | |
|---|---|---|---|
| صداقت | رېښتيا | مزه | خوند |
| هيله | اميد ، غوښتنه | امانتکار | صادق ، چي د چا مال ښه ساتي |
| شوټه | ګوډه | حضور | په وړاني ، مخته |
| نا محرمه | هغه څوک دئ چي د يوې ښځي نکاح ور سره روا وي | | |

## اختراع او کشف

| | | | |
|---|---|---|---|
| تباهي | د منځه وړل ، خرابي | مرمۍ | د توپک او توپ ګولۍ |

## د خلکو خولې نه ترلې کيږي

| | | | |
|---|---|---|---|
| مرکه | مجلس | ټولۍ | ډله |
| غيبت | د يو چا تر شا هغه خبري کول چي که هغه په خبر سي او بيا يې خوا بده سي | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ګيله | که يو څوک د چا بد و وايي نو بيا هغه بل سړی يو وخت هغه لومړي سړي ته وايي چي ګوره ستا دي پياد وي زما په هکله دي داسي خبري کړي دي. دې ته ګيله وايي. | | |
| مقام | ځای، رتبه، عزت | ناکسان | بې عزته خلک، بې ارزښه خلک |
| سپکي سپوري | بدي خبري | بيابان | د باندي، بيرون |
| ريشخند | سپکول | عقبا | هغه بله دنيا |
| موړ | بند، لوړ ځای | ببزاره | بد راتلل |
| ننداره | سيل | | |

## صابون

| | | | |
|---|---|---|---|
| تبرک | بزرګي | ځلال | روڼ، چي شی تر معلوميږي |
| بوخچه | د کال د ساتلو د پاره يو څلر کونجه دسمال | | |

## ناکامي د ارادې له مخه تښتي

| | | | |
|---|---|---|---|
| عزم | اراده، نيت | خوف | ببره (وبره)، ډار |
| باښه | يو لوی مرغه دئ | صيادي | ښکار |
| بال | وزر | پر | بڼکه |
| طلب | غوستنه | حديث | د پيغمبر خبره |
| لر و بر | يو خوا بل خوا | ګوهر | مرغلره |
| تاب | طاقت، زور | ظفر | بری، کاميابي |
| حاجت | اړتيا، ضرورت | | |
| زغره | د ځنځير په شان د اوسپني کالي دي چي خلک يې د جنګ په وخت کي اغوندي. | | |
| خول | د اوسپني کلکه خولۍ چي د جنګ په وخت کي به خلکو پر سرکوله. | | |
| ډول | ډول دلته د جنګ د اعلانولو د پاره راغلئ دئ | | |
| ډال | سپر، د اوسپني يو ګردی د تبخي په شان کلک شی دئ چي د توري مخ ته نيول کيږي | | |
| جوهر | اصل | زېور | ګښه، د ښايست د پاره امېل... |

## د اسلام پنځه بناوي

| | | | |
|---|---|---|---|
| مقدس | پاک | ادیان | دینونه |
| بشریت | انساني | شخصیت | سړیتوب |
| ابلاغ | د پیغام رسول | جسماني | بدني |
| عقیده | باور ، ایمان | عبادت | بندګي |
| جنازه | مړی | تهجد | د شپې په اخر کي عبادت |
| ستره | پاک | بالغ | لوی ، نوئ ځوان |
| مقیم | چي مسافر نه وي | غله | لکه غنم ، اوربشي ، جواري او نور |
| ارزش | قیمت درلودل | هجرت | کوچ کول |
| مراسم | دود ، رسم او رواج | طواف | چي سړی پر مکه شریفه راګرزي |
| حرم | د مکې شریفي او مدینې منورې خونه او سرای. | | |

## د مرچل ځوانه

| | | | |
|---|---|---|---|
| ګولۍ | مرمۍ | اهاړ | ډېره ګرمي |
| مرچل | سنګر ، خزه ، د جنګ ځای | قسمت | برخه |
| سپېره‌ړي | غوره‌ړي | جلګه | چمن ، شنه مځکه |
| ابۍ | مور | ساندي | په لوړ اواز ژړل |
| ځني | د سر وېښتان چي د یوې لوېشتي په اندازه اوږده وي | | |
| تعبیر | مانا | رهزن | د لارو غل |
| لوټمار | غل ، چوروونکئ | | |

## چاته په سپکه سترګه مه ګورئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| عارضي | غیر اصلي ، موقتي ، ظاهري | تنګسه | نیستي ، غریبي |
| مجادله | جنګ ، کوښښ | ژړه غونئ | وارخطا ، ژړا ته نژدې |
| باعث | سبب | جونګړه | کوچنۍ کوټه |
| مشروع | روا | | |
| کاسب | یو څوک چي په لاس سره یو شی جوړوي | | |

## غوره دعا

| | | | |
|---|---|---|---|
| نا اشنا | چي سړی يې نه پېژني | چرتونه | فکرونه ، خيالونه |
| ګوټ | کونج | تياره | تاريکه |
| عدل | ټول خلک يو شان بلل | انصاف | عدل |
| کرکه | بد راتلل | کينه | دښمني ، حسد |
| توان | طاقت ، زور | | |

## دعا

| | | | |
|---|---|---|---|
| لړي | اوريځي | خواره واره | تيت و پاشان |
| ژوبله | زخمي والئ | ورانول | خرابول ، نړول |
| پوپنا | د منځه تلل | مين | عاشق |
| سپېڅلئ | پاک | امان | ساتنه |
| فضا | هغه ساحه چي لمر او ستوري پکښي ځای لري. | | |

## ښې مشورې

| | | | |
|---|---|---|---|
| مشوره | لار ښودنه | احسان | ښه کول |
| قهر | درد ور تلل | ټګ | مکار ، چمبازه |
| غولوونکئ | خطا ايستونکئ | حوسي | چي هر شی غواړي |
| حرصناکه | چي ډېر شی غواړي | لټه | پسې ګرزېدل |
| وينا | خبري | | |

## ښه مېرمن

| | | | |
|---|---|---|---|
| بوډا | سپين ږيری | معالجه | روغتيا |
| کردار | کړنه ، عمل | ډاډه | زړه پوړه |
| رنځ | نا روغي | توافق | خوښه ، موافقه |
| عصبي | قهر جن ، درد من | | |

## په افغانستان کي لومړني اخبارونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| شمس | لمر | نهار | سهار |
| اصلاحي | د جوړتيا د پاره | ارشاد | لار ښودنه |
| نسوان | ښځي | | |

## مېرمن زينبه

| | | | |
|---|---|---|---|
| رواج | چي باب وي | حرم | سرای |
| قدر | عزت | تسکين | ځان ارامول |
| ويرنه | غم | مبتلا | اخته |
| ببلتون | جلاوالئ | تبغ | چاړه |
| کړم | پرې سوئ | ماتم | غم |
| شير | زمری | پلنګ | پړانګ |
| افسوس | ارمان | واويلا | په نارو ، په چغو |

## په پخواني افغانستان کي د الوتني لومړی فکر

| | | | |
|---|---|---|---|
| پېړۍ | سل کاله | عقاب | يو لوی مرغه دئ |
| بې سابقې | بې مثله ، چي بل داسي نه وي | قرباني | لکه سړی چي په‌اختر پسه حلالوي |

# د مضمونونو فهرست


| شماره | مضمـــــون | پـــانه |
|---|---|---|
| ١ | مناجات | ١ |
| ٢ | د افغانستان جغرافیه | ٢ |
| ٣ | نوي نسل ته | ٨ |
| ٤ | د ژوند لاري چاري | ١٠ |
| ٥ | بې نیازي | ١١ |
| ٦ | توریالي او مېړني اوسئ | ١٢ |
| ٧ | چي په خوی باندي کمکی وي بابا نه دئ | ١٦ |
| ٨ | پښتو متلونه | ١٦ |
| ٩ | د نیکه زېغ | ١٧ |
| ١٠ | کله چي تاوون (طاعون) راغئ | ٢١ |
| ١١ | بې پته خویونه | ٢٣ |
| ١٢ | دهقاني | ٣٤ |
| ١٣ | کیسه | ٢٥ |
| ١٤ | ټوکه | ٢٦ |
| ١٥ | ایمان او اسلام | ٢٦ |
| ١٦ | په خوله اقرار او په زړه تصدیق | ٢٧ |
| ١٧ | اسلام سوله خوښوي | ٣٠ |
| ١٨ | د حدیبې د سولي قرارداد | ٣٠ |
| ١٩ | د ماینې مرګ | ٣١ |
| ٢٠ | د ژبې اهمیت | ٣٢ |
| ٢١ | کیسه | ٣٤ |
| ٢٢ | ګیدړه او بڼ | ٣٤ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۳ | صداقت | ۳۵ |
| ۲٤ | اختراع او کشف | ۳۷ |
| ۲۵ | د خلکو خولې نه تړلې کیږي | ۳۸ |
| ۲٦ | صابون | ٤۲ |
| ۲۷ | ناکامي د ارادې له مخې تښتي | ٤٤ |
| ۲۸ | پېښنه | ٤۵ |
| ۲۹ | د اسلام پنځه بناوي | ٤٦ |
| ۳۰ | دا ته او دا دې دېګ | ٤۹ |
| ۳۱ | د مورچل ځوانه | ۵۰ |
| ۳۲ | چا ته په سپکه سترګه مه ګورئ | ۵۲ |
| ۳۳ | غوره دعا | ۵۳ |
| ۳٤ | دعا | ۵٤ |
| ۳۵ | ښې مشورې | ۵۵ |
| ۳٦ | ښه مېرمن | ۵٦ |
| ۳۷ | په افغانستان کې لومړي اخبارونه | ۵۷ |
| ۳۸ | مېرمن زینبه | ۵۹ |
| ۳۹ | په افغانستان کې د الوتنې لومړی فکر | ٦۱ |

# په سویډن کښې د پښتو ژبې د زده کوونکو

# د پاره د پښتو ژبې د تدریس لسم کتاب

# ۱۰

ترتیب کوونکئ: عبدالعلي رسول زاده په مالمو کې د پښتو ژبې ښوونکئ

# تر پیل د مخه څه خبري

لکه څنګه چي تاسي ته معلومه ده په سویډن کي د خارجیانو او مهاجرو کورنیو اولادونه د خپلي مورنۍ ژبي او کلتور د زده کړي او ساتني حق لري. د مورنۍ ژبي او کلتور د دغه زده کړي او ساتني د پاره سویډني مقاماتو په ښوونځیو کښي د نورو مضمونو په څنګ کښي د مورنۍ ژبي او کلتور تدریس هم شامل کړئ دئ چي نومړي يې د ښوونځي د نورو مضمونو په شان ارزش لري، ځکه يې نو د دغه تدریس تعلیمي نصاب او د نومرو ور کولو سیستم د ښوونځیو د نورو مضمونو په شان د ښوونځیو د وزارت د خوا څخه ترتیب کړئ دئ. وروسته تر دې نو بیا د اړونده مورنیو ژبو د ښوونکو له خوا د کار پلان جوړیږي چي دغه د کار پلان په دواړو ژبو یاني مورنۍ ژبه او سویډني ژبه لیکل کیږي.

د دغه کتاب مضمونونه په سویډن کي د پښتو ژبو زده کوونکو د لسم ټولګي د پاره د ښوونکو د کار د پلان سره برابر را ټول سوي دي.

دغه کتاب به د ازمویني په توګه د یو څه مودې د پاره تدریس سي او د دغه تدریس په جریان کښي به د ښاغلو ښوونکو، میندو، پلرو او زده کوونکو نظریې د قدر وړ و ګڼل سي.

د دې کتاب مضمونونه د افغانستان د اوسنیو، پخوانیو او ځني نورو کتابو څخه راټول سوي دي.

د دې کتاب په پای کي د ټولو مضمونونو لغاتونه داسي مانا سوي دي چي په هغه مضمون کي مانا ورکړي نه داسي چي د قاموس په شان د هغه لغات نوري مترادفي کلمې يې هم راغلي وي. د بلي خوا د یو شمېر لغاتو مانا زده کوونکو ته پخپله یو نوئ لغات وي نو که د ځینو لغاتو مانا د لغاتو سره سل په سل کي سر نه خوري دلیل به يې هم دغه وي. د نورو کتابونو د پاره د پښتو په پاڼه کي و ګورئ:

www.pashto.se

په درنښت

Abdul Ali Rasulzada
Sunnan vägen 271
216 17 Malmö
Tel: 040- 156753
alirasulzada@hotmail.com